## ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

د عامه اطلاعاتو او نشراتو ریاست

# ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله

علمي · معلوماتي · فرهنګي



- د برېښنا يي کېډو پر لور ګامونه (سرليکنه)
- له عملياتي معين سره د هوايي ډګرونو پر څرنګوالي او پرمختګونو تفصيلي مرکه
- شپږ اړخيز دهلېز؛ د ټرانسپورټي او سوداګريزو اړيکو نوی پړاو
- آيا ميدانيد اولين موتر در کدام سال ساخته شد؟
- له الوتکو سره د مرغانو ټکر
- فعاليت‌ها و دست‌آوردهای وزارت ترانسپورت و هوانوردی
- موټر په پام چلوه!
- په خان اباد او کندوز کې لومړني بايسکلونه

پرله‌پسې: ۱۴ ګڼه

د ۱۴۰۳ل کال لومړۍ


د خوست نړیوال هوايي ډګر
میدان هوائی بین المللی خوست
KHOST INTERNATIONAL AIRPORT

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اَلْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالْعَاقبَةُ للْمُتَّقِيْنَ
وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى أَشْرَف الْأَنْبيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ
وَعَلَى ءَالِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِيْنَ



ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت جومات

# په دې ګڼه کې:


| | |
|---|---|
| د برېښنايي کېدو پر لور ګامونه (سرليکنه) | ۱ |
| د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د محترم مقام لنډ پيغام! | ۲ |
| له عملياتي معين مولوي فتح‌الله منصور سره تفصيلي مرکه | ۳ |
| شپږ اړخيز دهلېز؛ د ټرانسپورټي او سوداګريزو اړيکو نوى پړاو | ۷ |
| دافغانستان هوايي ډګرونه | ۹ |
| له الوتکو سره د مرغانو ټکر | ۱۵ |
| تير(TIR) ټرانزيټي سيستم | ۱۷ |
| په خان اباد او کندوز کې لومړني بايسکلونه | ۱۹ |
| آيا ميدانيد اولين موتر در کدام سال ساخته شد؟ | ۲۰ |
| فعاليت‌ها و دست‌آوردهای وزارت ترانسپورت و هوانوردی | ۲۱ |
| د ځان ارزښت مه کموئ! | ۳۴ |
| موټر په پام چلوه! | ۳۵ |
| په اتريش کې اتلس‌کلنو ته ولې عامه ټرانسپورټ وړيا شو؟ | ۳۷ |
| د حماد هوايي ډګر په نړۍ کې د لومړني غوره هوايي ډګر نوم خپل کړ | ۳۸ |
| د امارات هوايي شرکت ۵.۱ ميليارد ډالره ګټه کړې | ۳۹ |
| په نړۍ کې د برېښنايي موټرو زياتوالى | ۴۰ |
| فولکس واګن را چه کسی و با چه هدفی ساخت؟ | ۴۱ |
| هند لکه مرمۍ چټک ټرينونه جوړوي/ تر غږ چټکه خصوصي الوتکه وازمويل شوه | ۴۲ |
| لارۍ او ګړندي موټرونه | ۴۳ |
| د هوايي ټرانسپورټ اقتصادي ارزښت | ۴۵ |










**يادونه:**

- له سرليکنې پرته د نورو ليکنو سپيناوى د ليکوالانو پر غاړه دى.
- د مجلې له مقالو ګټه اخيستنه د سرچينې په يادولو سره جواز لري.
- ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله د ټرانسپورټ او هوايي چلند اړوند هغو مقالو او مطالبو ته په خپلو پاڼو کې ځاى ورکوي، چې بل ځاى نه وي خپرې شوې.

# ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله

علمي - معلوماتي - فرهنګي

د دوهم کال لومړۍ ګڼه، پرلپسي څلورمه ګڼه


| | |
|---|---|
| امتیاز خاوند: | ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت |
| خپروونکی: | د عامه اطلاعاتو او نشراتو ریاست |
| مسئول مدیر: | نورالله غازي |
| کتنپلاوی: | امام الدین احمدي، مولوي رازمحمد المظهري، احمد جاوید فیضي سید جاوید محبوب، احسان الله سعادت مدني، حکمت الله آصفي، عزیزالرحمن فراجغاني |
| عکاس: | روح الله هنرجو |
| ډیزاینر: | عبدالغني افغان |
| پته: | انصاري واټ، ملي راډیو ټلویزیون ته څېرمه ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت |
| اړیکې شمېره: | +(۹۳) ۰۲۰۲۹۲۳۲۹۶ |
| ایکسپاڼه: | @DChlnd |
| ویبپاڼه: | www.mota.gov.af |

# د برېښنايي کېدو پر لور ګامونه

## سرلیکنه

د ۱۴۰۳ل کال په لومړيو درېيو مياشتو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د نورو چارو تر څنګ د خپلو پروسو برېښنايي کولو ته پاملرنه زياته کړې ده او په عملي ډول يې پر چارو کار پيل شوی دی. دا پرمختګونه نه يوازې چې د شفافيت او مؤثريت په زياتوالي کې مرسته کوي؛ بلکې په دې برخه کې پرمختګ او نوښت د وزارت ژمنتيا هم څرګندوي.

د هوايي چلند برخې او په ځانګړې توګه په نړيوالو هوايي ډګرونو کې خدمتونه او سيستمونه کابو ټول برېښنايي شوي، چې له کبله يې چارې ګړندی او معياري شوې دي. د برېښنايي سيستمونو په کارولو سره په چارو کې اسانتيا رامنځته شوې، چې دا پرمختګونه يوازې د مسافرو لپاره نه؛ بلکې د هوايي ډګرونو کارکوونکو ته هم ګټور ثابت شوي دي.

سږ کال د بېلابېلو ولايتونو د کمپيوټرساينس پوهنځي فارغانو څخه ازموينه واخېستل شوه او له برياليتوب وروسته (۱۲۲) کسانو ته په باروړونکو ترمينلونو کې د رونډنوبت سيستم خدمتونو برېښنايي کولو په اړه درې ورځنی ښوونيز سمينار ورکړل شو. دغه کسان به په مرکزي او ولايتي باروړنکو ترمينلونو کې پخوانی کاغذي پروسه برېښنايي کوي او د دې تر څنګ په ټرانسپورټي بندرونو او مسافروړونکو ترمينلونو کې هم د سيستمونو برېښنايي کېدو لپاره کار روان دی. برېښنايي سيستم د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله) حکم او د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت يو مهم او اغېزمن ګام دی، چې د هېواد پر اقتصاد او خدماتي سيستم به پراخې اغېزې ولري او له دې سره به ياد وزارت توانېدلی وي، چې خپلې خدماتي او مالي پروسې لا ډېرې رڼې او چټکې کړي او دا پرمختګ به د هېوادوالو د رضايت تر څنګ د خصوصي سکتور باور هم زيات کړي، د انتقالاتو دقيقه احصايه به موجوده وي، د ټرانسپورټي شرکتونو او موټرو تنظيم به اصولو ته برابر شوی وي.

د دې تر څنګ په مسافروړونکو او باروړونکو موټرو کې د (GPS) سيستم پر نصبولو هم عملي کار پيل شو، چې له دې سره به له يوې خوا د ټرافيکي پېښو مخنيوی شوی وي او له بل پلوه به مسافرو او سوداګرو ته د سفر او سوداګرۍ په برخه کې پوره اسانتيا او په ځمکني ټرانسپورټ کې معيار او هوساينه رامنځته شوې وي او جي پي ايس شرکتونه به د پلازمېنې کابل تر څنګ په ولاياتو کې هم خپلې نمايندګۍ پرانيزي او د هر ولايت مسافروړنکي او باروړونکي موټرو کې به دا سيستم لګول کېږي. د دې تر څنګ د نورو اداري مراسلاتو په برېښنايي کولو هم کار پيل شوی دی، چې ځينې يې برېښنايي او ځينې يې تر کار لاندې دي.

بايد ياودونه وشي، چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت ياد پرمختګونه د دې وزارت يو روښانه ليدلوری او ژمنتيا څرګندوي، دا نه يوازې د شفافيت او مؤثريت په زياتوالي کې مرسته کوي؛ بلکې د هېوادوالو لپاره به هم د خدمتونو په وړاندې کولو کې اسانتيا راولي. دا پرمختګونه به دهېواد په اقتصادي، ټولنيزو او خدماتي سيستمونو کې د پام وړ بدلونونه راولي او د هېواد راتلونکي لپاره به د لا ډېر پرمختګ زمينه برابره کړي.

# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د قدرمن مقام لنډ پيغام!

لکه څنګه چې تاسې ټولو ته معلومه ده، د ۱۴۰۳ ل کال پیل په بارانونو وشو، چې د وچکالۍ په له منځه وړلو او ښېرازۍ په راوستلو کې خورا مهم وو؛ خو په خواشینۍ سره چې سیلابونو زموږ ګڼ شمېر هېوادوالو ته ځاني او مالي زيانونه واړول، الله ﷻ دې شهيدانو ته جنتونه، ټپيانو ته عاجله روغتيا او وارثينو ته صبر جميل په نصيب کړي. د دې کال د پيل په لومړيو درېيو مياشتو کې ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د پام وړ لاسته راوړنې درلودې، چې په دې کې د ترکيې او ايران هېواد مشهورو هوايي شرکتونو لکه: ترکيش‌ايرلاين او ايران‌اير افغانستان ته خپلې الوتنې پيل کړې. دا په لنډه موده کې دوه نړيوال هوايي شرکتونه شول، چې افغانستان ته خپلې الوتنې پيلوي، دا په داسې حال کې ده، چې تر دې څه موده وړاندې هم شپږو نورو نړيوالو هوايي شرکتونو افغانستان ته خپلې الوتنې پيل کړې وې، چې دا موږ او زموږ د هېواد لپاره يوه لويه بريا او لاسته راوړنه ده، چې له دې سره به هېوادوال او سوداګر د نړۍ بېلابېلو برخو ته په اسانۍ سره تګ راتګ کوي.

د هوايي ډګرونو پراختيا او بيا رغونې په برخه کې د پام وړ چارې ترسره شوې دي، ښه بېلګه يې د خوست هوايي ډګر دی، چې عملاً العين او دوبۍ ته ترې په اونۍ کې دوه دوه الوتنې ترسره کېږي او د هرې ورځې په تېرېدو هڅه کوو، چې د هوايي چلند چارې لا ښې او هېوادوالو ته هوساينه او اسانتيا رامنځته شي، د هوايي چلند او همدارنګه د ځمکني ټرانسپورټ لپاره د مسلکي کسانو روزنې چارې ګړندۍ شوې دي، په همدې موخه د هوايي چلند انسټيټيوټ کې، چې پخوا يې دوه څانګې درلودې، درې نورې هم ورزياتې شوې دي چې يوه څانګه يې د واټ ټرانسپورټ هم ده او په تېرو دوو کلونو کې د هوايي ټرافيکو کنټرول او هوايي چلند ټيکنالوژۍ څخه څه کم دوه سوه کسان فارغ او په دندو ګمارل شوي دي. د دې ترڅنګ له ګاونډيو هېوادونو (بېلاروس، روسيې، قزاقستان، ترکمنستان او پاکستان) هېوادونو سره د شپږ اړخيز ځمکني دهلېز په اړه خبرې وشوې او په کابل کې د قزاقستان لومړي وزير له مرستيال او همدارنګه د ترکمنستان هېواد له پلاوي سره جلا جلا لېدنې هم ترسره شوې، چې د ټرانسپورټي پراختيا او د هوکړو په تجديد او دې ته ورته مسائلو ورسره ګټورې خبرې وشوې. دا مذاکرات د سيمې هېوادونو ترمنځ د همکارۍ او اقتصادي پرمختګ لپاره خورا مهم دي. موږ هيله لرو چې شپږ اړخيز دهلېز په مرسته به زموږ سوداګر او صنعتکاران وکولی شي خپلې سوداګرۍ او محصولاتو ته نور نړيوال بازارونه ومومي. د هډو او ترمينلونو پراختيا او معيار ته په پوره جديت کار روان دی، په پام کې ده چې د پلازمېنې کابل په ګډون به په ډېرو ولايتونو کې لا نور ترمينلونه او تيرپارکونه رامنځته شي. تاسې ګورئ چې موټر تر پخوا ډېر منظم شوي دي، مسافرو او سوداګرو ته د پام وړ اسانتياوې رامنځته شوې دي. په دې لاسته راوړنو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت اړوند مسئولينو او کارکوونکو د نه ستړې کېدونکو هلو ځلو، ژمنتيا، او د چارو ښه ترسره کولو له امله مننه کوم. موږ په خپلو هڅو او همکارۍ باندې ټينګار کوو ترڅو د خپل هېواد د پرمختګ او ښېرازۍ لپاره لا زياتې چارې ترسره کړو. د افغانستان راتلونکی روښانه دی او موږ به ټولې هڅې وکړو چې دا روښانه راتلونکی ټولو هېوادوالو ته يقيني کړو. په پای کې يو ځل بيا د ټولو هېوادوالو د سوکالۍ او پرمختګ هيله لرم. الله ﷻ دې موږ ټولو ته په خپلو چارو کې بريا او توفيق په نصيب کړي.

و من الله توفيق.

**الحاج ملا حميدالله اخندزاده**

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست








## « عملياتي معين مولوي فتح‌الله منصور »
## سره د هوايي ډګرونو پر څرنګوالي او پرمختګونو تفصيلي مرکه

ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله په هره ګڼه کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت پر کړنو، لاسته‌راوړنو او راتلونکو پلانونو له يوه اړوند شخص سره مرکه لري، داځل مو د هوايي چلند له عملياتي معين ښاغلي الحاج مولوي فتح‌الله منصور سره د هېواد د هوايي ډګرونو پر څرنګوالي، اوسني حالت او د هوايي ډګرونو په تړاو پر راتلونکو پلانونو او دې ته ورته نورو اړخونو مفصله مرکه کړې، چې تاسې يې لوستلو ته رابولو.

**پوښتنه:**

امریکایي ځواکونو له وتلو سره سم د کابل نړیوال هوایي ډګر په ګڼون نورو هوایي  ډګرونو ته هم زیان اړولی و او مهم تجهیزات یې تخریب کړي وو، د اسلامي امارت له فتحې وروسته هوایي ډګرونو ته څومره پاملرنه شوې او څومره پراختیا پکې راغلې ده؟

**ځواب:**

د امریکایي ځواکوانو له لورې د کابل ، کندهار، هرات او مزارشریف نړیوالو هوایي ډګرونو ته په قصدي او عمدي توګه ډېر زیان اوښتی و، چې الحمدالله د اسلامي امارت د فتحې وروسته د کابل هوایي ډګر څخه کار پیل شو او بیا په ترتیب سره د نورو هوایي ډګرونو چارې په یوه منل شوې معیاري کچې سره ترسره شوې او هېوادوال شاهدان دي، چې الحمدالله همدا اوس له یادو هوایی ډګرونو څخه نړیوالې الوتنې ترسره کېږي او ښه بېلګه یې د حجاجو بریالي انتقالات او نورې نړیوالې ورځنۍ الوتنې دي، چې له همدې هوایي ډګرونو څخه تر سره کېږي.

**پوښتنه:**

د تېرې ادارې په دور کې د هوایي ډګرونو ځینې ساحې د زورواکانو او خلکو له خوا غصب شوې وې، هغه ترې راګرځول شوي او که اوس هم د هغوی په واک کې دي؟

**ځواب:**

دا یو څرګند حقیقت دی، چې د هوایي ډګرونو د چاپېریال او هوا پېژندنې ریاست اړوند دولتي ځمکې د زورواکو له لورې په ناقانونه توګه غصب شوې وې. الحمدالله د اسلامي امارت د مشرتابه په پاملرنه او د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت مسئولینو د دوامداره هلو ځلو په ترڅ کې ۸۰سلنه دا جایدادونه او ځمکې بېرته لاسته راغلي او دا لړۍ اوس هم په پوره چټکتیا سره روانه ده.

**پوښتنه:**

تقریباً      کلونه وړاندې په پام کې وه، چې لوګر ولایت کې یو لوی نړیوال هوایي ډګر رامنځته شي، چې دا خبره د کابل تېرې ادارې په وروستیو کې بیا راپورته شوه او وویل شول چې تر ۲۰۳۵ز کال پورې به د لوګر په محمداغه ولسوالۍ کې د افغانستان په کچه یو لوی نړیوال هوایي ډګر رامنځته شي، آیا اوس هم داسې کوم پلان شته چې په لوګر ولایت کې داسې یو لوی نړیوال هوایي ډګر رامنځته شي؟

**ځواب:**

هو، کلونه وړاندې داسې یوه نظریه موجوده وه چې د تېرې ادارې په وروستیو کې هم پرې د امکان سنجۍ لپاره څه ناڅه خبرې شوې وې؛ خو د جوړېدو لپاره یې کوم اقدام نه و ترسره شوی، د اوس لپاره زموږ پنځه نړیوال او ۲۲ محلي فعال هوایي ډګرونه بسنه کوي؛ خو د اړتیا په صورت کې به حالاتو ته په لېدو د داسې هوایي ډګر د جوړېدو په اړه د اسلامي امارت مشرتابه تصامیم ونیسي.

**پوښتنه:**

د ظاهرشاه په واکمنۍ کې، چې سلطان محمود غازي د ملکي هوایي چلند رئیس و، هغه د ریاست پر وخت د ګرځندویانو د جذب په موخه هوایي ډګرونو جوړېدو ته ډېره پاملرنه کېده، د دوی پلان و، چې د هېواد په ډېرو تاریخي او تفریحي سیمو کې کوچني هوایي ډګرونه رامنځته کړي، تاسې هم په داسې سیمو کې د هوایي ډګرونو د جوړېدو کوم پلان لرئ او که د سړکونو په جوړېدو یې اړتیا نه احساسېږي؟

**ځواب:**

هو، موږ هم د مسافرو هوساینې په پار په تفریحي او لرې پرتو سیمو کې د شته هوایي ډګرونو په فعالولو او معیاري کولو او همدارنګه د کوچنیو الوتکو کېناستو لپاره د کوچنیو هوایي ډګرونو پر جوړولو اقدام کړی دی، د غور ولایت په چارصده ولسوالۍ کې د اوس لپاره په خامه ډول یو هوایي ډګر جوړ شو، چې کوچنۍ الوتکې پکې ناسته کولی شي او د دې تر څنګ ټول هغه لوی او واړه هوایي ډګرونه لکه د بدخشان، غزني او ځینو نورو ولایتونو او سیمو کې فعال دي، چې سیلانیان او نور خلک د اړتیا په وخت کې د هوا له لارې تګ کولای شي.

**پوښتنه:**

هوایي ډګرونه د افغانستان اقتصادي په پیاوړتیا کې څومره مهم دي او د لا پراختیا لپاره یې باید څه وشي؟

**ځواب:**

افغانستان د منځنۍ اسیا په مرکزي برخه کې پروت او په وچه کې راګیر هېواد دی، چې د صادراتو او وارداتو ډېره برخه یې د ځمکنیو لارو څخه تر سره کېږي، چې د سوداګریزو توکو په رسېدو کې ډېر ځنډ راځي او لګښت یې لوړېږي، څرنګه چې سمندري بنادرو ته لاره نه‌لرو؛ نو هوایي ټرانسپورټ ته ډېره اړتیا شته چې دا هېواد د نړۍ د ټولو لرې پرتو هېوادونو سوداګریزو مارکیټونو سره وصل کړي. طبیعي خبره ده چې نړیوالو هوایي ډګرونو ته ډېره شدیده اړتیا شته، چې افغانستان له نورې نړۍ سره سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي. موږ هڅه کوو چې د افغانستان پر نړیوالو هوایي ډګرونو باندې په کافي اندازه پانګونه وکړو او ټول خدمات یې معیاري کړو، تر څو د نړۍ لویې باروړونکې الوتکې پکې په اسانۍ ناسته او الوتنه وکړای شي.

**پوښتنه:**

د هوایي ډګرونو کارکوونکو ظرفیت لوړنې ته مو څومره پاملرنه کړې ده؟

**ځواب:**

د ټرانسپورټ او هوایی چلند وزارت د خپلو ټولو کارکوونکو او په ځانګړي ډول د هوایي ډګرونو مسلکي کارکوونکو کاري وړتیا اوظرفیت لوړونې ته په پوره ډول ژمن دی، د ملکي هوایي چلند انسټیټیوټ په همدې برخه کې د کدرونو روزنه تر سره کوي او همداراز د هوایي ډګرونو تخنیکي خدمتونه د متحده عربي اماراتو کمپنۍ ( ګاک ) سره د شوي تړون په ترڅ کې تر سره کېږي، چې ډېرى تخنیکي او تخصصي کارکوونکي د همدې کمپنۍ په مرسته د هېواد په د ننه او بهر کی روزل کېږي، الحمدالله د هوایي ډګرونو ټول مسلکي کسان د نړیوالو معیارونو سره سم روزل کېږي او خدمتونه وړاندې کوي.

**پوښتنه:**

په نړیوالو هوایي ډګرونو کې مسافرو ته د سهولتونو او اسانتیاوو په رامنځته کولو کې څومره کار شوی دی؟

**ځواب:**

د الله ﷻ د شکر کولو ځای دی، چې د کابل او څلورو نورو نړیوالو هوایي ډګرونو ترمینلونو کې ټول اړین خدمتونه لکه: لوی انتظارځای، د چک او تلاشۍ سیسټمونه، د انټرنېټ امکانات، د لمانځه او اوداسه سهولتونه، د ټرانسپورټ او ټکسۍ وسایلو ته لاسرسی، د موټرونو پارکینګ، دوکانونه، کانټین او داسې نور ډېر سهولتونه د نړیوالو معیارونو سره برابر او فعاله دي. د وزارت د رهبرۍ ټول پام د همدې چارو د ښه سمبالتیا لپاره اړول شوی او انشاءالله د هرې ورځې په تېرېدو به نور اصلاحات هم رامنځته کېږي.

**پوښتنه:**

اوس په هوايي ډګرونو کې کوم داسې کار شوی دی، چې تاسې پرې وياړ کولای شی؟

**ځواب:**

د پوره تخريب شوو هوايي ډګرونو او فلج هوايي چلند څخه الحمدالله معياري حالاتو ته رسيدلي یو، ټولو هغو هېوادونو ته چې وړاندې ورته الوتنې کېدې او څو نورو هېوادونو ته په منظم ډول الوتنې پیل شوې دي، بهرنيو معتبرو هوايي شرکتونو افغانستان ته الوتنې پيل کړي دي، تر ټولو د وياړ خبره دا ده چې دا ټولې چارې د افغانانو لخوا مديريت او وړاندې کېږي.

**پوښتنه:**

په راتلونکې کې د هوايي ډګرونو د لا پرمختګ لپاره څه پلان لری؟

**ځواب:**

د هوايي ډګرونو د ترمينلونو پراخوالی په هوايي ډګرونو کې د مډرن او معاصرو تجهيزاتو نصب او د لا زياتو تخصصي ځوانو کدرونو روزنه، هېواد ته د لويو سوداګريزو الوتکو د شرکتونو جلبول او مسافرينو لپاره د تفريح او سهولت نوي امکانات، همدا راز د نړيوال توريزم او سياحت په پراختيا کې نور کوټلي ګامونه اخيستل، زموږ د وزارت په راتلونکو پلانونو کې شامل دي.

د الله ﷻ څخه يې په عملي کولو کې توفيق غواړو.

والسلام





# شپږ اړخیز دهلېز د ټرانسپورټي او سوداګریزو اړیکو نوی پړاو


## امام‌الدین احمدي

(د عامه اطلاعاتو او نشراتو رئیس)


په دې وروستیو کلونو کې، د سیمې ځینو هېوادونو دې ته لیوالتیا ښکاره کړه، چې د شپږو هېوادونو تر منځ یو ګډ ځمکنی ټرانسپورټي دهلېز رامنځته کړي، د دې دهلېز لومړی وړاندیز د ازبکستان لخوا وشو، چې له دې څخه یې په ټولیز ډول موخه دا وه، چې د څنګلورو هېوادونو سره د سوداګریزو اړیکو تر څنګ د افغانستان له لارې د پاکستان کراچۍ بندر په واسطه ګرمو اوبو ته ځان ورسوي، چې په دې طرحه کې شپږ هېوادونه: بېلاروس، روسیه، قزاقستان، ازبکستان، افغانستان او پاکستان شامل دي. که څه هم د دې دهلېز رامنځته کول په لومړني پړاو کې دي؛ خو له یو کال راپه دې خوا پرې خبرې روانې دي او ازبکستاني پلاوي څو ځله افغانستان ته سفر ترسره کړ او همدا رنګه د افغانستان د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست محترم الحاج ملا حمیدالله اخندزاده او ورسره مل پلاوي ازبکستان هېواد ته سفر ترسره کړ او هلته یې په شپږ اړخیزه غونډه کې، چې د یادو هېوادونو استازو پکې برخه درلوده ګډون وکړ او د یاد دهلېز په تړاو هر اړخیزې خبرې وشوې او ازبکستاني پلاوي هم د خپل سفر په ترڅ کې د افغانستان له لویو لارو او بندرونو څخه لیدنه وکړه. د شپږ اړخیز دهلېز هوکړه تر دې دمه څلورو هېوادونو (بېلاروس، روسیې، قزاقستان او ازبکستان) لاسلیک کړې ده، پاکستان هم ورته لېوالتیا ښودلې ده، افغانستان به هم له خپلو داخلي ارزونو وروسته په دې دهلېز کې د ګډون پرېکړه وکړي او له دې وروسته به په عملي ډول پرې کار پیل شي. تر دې دمه د دې دهلېز پر عمومیاتو باندې بحثونه شوي دي، پر تخنیکي مسائلو به یې د ټولو هېوادونو د هوکړې تر لاسلیک وروسته خبرې وشي.

### جیوپولیټیک اهمیت:

افغانستان د اسیا په زړه کې یو مهم جیوپولیټیکي موقعیت لري، چې د مرکزي او جنوبي اسیا لپاره ستراتیژیک ارزښت لري. دا هېواد د مرکزي اسیا هېوادونو لپاره د سمندر سره د نښلونې تر ټولو لنډه او اسانه لاره ګڼل کېږي؛ نو له همدې کبله د شپږ اړخیز دهلېز رامنځته کېدل به د افغانستان د ټرانسپورټي سکتور لپاره نوي فرصتونه رامنځته کړي.

د دې تر څنګ به په هېواد کې د اقتصادي پرمختګ او امنیت د ټینګښت لپاره هم خورا مهم اغېز ولري.

افغانستان نه يوازې د جغرافيوي موقعيت له مخې مهم دی، بلکې د دې هېواد معدني زېرمې، طبيعي منابع، او د انرژۍ سرچينې هم نړيوال د ځان پر لورې راکاږي، د سيمې لوی قدرتونه لکه چين، روسيه، هند او همدارنګه ګاونډي هېوادونه په افغانستان کې د خپلو اقتصادي او ستراتيژيکو ګټو د خوندي کولو لپاره هڅې کوي، د افغانستان له لارې د ګازو او تيلو نللیکې، ريلپټلۍ او ټرانزيت لارې د سيمې اقتصادي ودې ته مهمې دي او افغانستان هم غواړي چې په اقتصادي ډګر کې د نړيوالو پام ځان ته راواړوي او د ځان بساينې په پار د دوی له تجربو او پانګهاچونې څخه ګټه پورته کړي.

د افغانستان جيوپوليټيکي اهميت نه يوازې چې اقتصادي او ستراتيژيکي ګټې لري؛ بلکې تر څنګ يې د نړيوال امنيت او سياسي ثبات لپاره هم ډېر مهم دی.

د افغانستان امن او ثبات د سيمې او نړۍ لپاره حياتي اهميت لري، باثباته او پرمختللی افغانستان نه يوازې افغانانو ته؛ بلکې د سيمې هېوادونو ته ګټور بلل کېږي. بايد هڅه وشي چې له شته فرصتونو څخه ښه ګټه پورته شي او افغانستان د سوېلي او مرکزي اسيا د وصل نقطه وګرځول شي، تر څو د دايمي اقتصادي او سياسي ثبات څښتنان واوسو.

## اقتصادي، سوداګريزې او امنيتي ګټې:

افغانستان د اقتصادي، سوداګريزو او امنيتي ګټو له اړخه ځانګړی اهميت لري، له افغانستان سره د پينځو ملګرو هېوادونو سوداګريزې او اقتصادي ګټې به د دې لامل شي، چې په افغانستان کې د سړکونو جوړولو، رېلپټلۍ او ورسره اړوندو بنسټيزو کارونو ته پاملرنه زياته او خدمتونه هم معياري کړل شي، چې دا به نه يوازې د افغانستان د ټرانسپورټي زيربناوو پرمختګ کې مرسته وکړي؛ بلکې د دې هېواد اقتصادي وده به هم چټکه کړي. د يادو هېوادونو تر منځ به سوداګريزې، سياسي، فرهنګي او اقتصادي اړيکې پياوړې شي او د دې تر څنګ به د يادو هېوادونو تر منځ ښې اړيکې د افغانستان او سيمې هېوادونو تر منځ د متقابل باور او همکارۍ فضا رامنځته کړي.

د سوداګريزو اړيکو پياوړتيا به د افغانستان د صادراتو او وارداتو په برخه کې مثبته اغېز ولري، چې په پايله کې به د افغانانو د ژوند په کيفيت کې هم د پام وړ ښهوالی راشي.

د دې دهلېز پر جوړېدو سره به د يادو هېوادونو باروړونکې لارې د افغانستان له خاورې تېرېږي، د عبور حق به يې افغانستان ته ورکول کېږي، چې دا به د افغانستان لپاره د يوې نوې اقتصادي دورې پيل وي او د دې ترڅنګ به د افغاني ټرانسپورټي شرکتونو باروړونکي موټر يادو هېوادونو ته په اسانۍ سره سوداګريز توکي لېږدوي، د افغانستان کرنيز او نور صنعتي توکي به يادو ټولو هېوادونو ته لېږدول کېږي او دا چاره به نورو ورته ټرانسپورټي دهلېزونو ته لاره برابره کړي، چې په پايله کې به افغانستان د نړۍ له ډېرو هېوادونو سره نښلول شوی وي.

د شپږ اړخيز دهلېز طرحه د سيمې هېوادونو لپاره ستراتيژيک اهميت لري، چې د افغانستان په ګډون به د مرکزي او سوېلي اسيا هېوادونو تر منځ ټرانسپورټي او اقتصادي اړيکې ټينګې کړي.

د دې لپاره اړينه ده چې د دې دهلېز د جوړېدو ګډې هڅې ګړندۍ شي او ياد شپږ هېوادونه د اوسپنيپټلۍ او د باروړونکو موټريزو کاروانونو په وسيله سره وتړل شي.

(لړۍ)



# د افغانستان

## هوايي ډګرونه

دا ځل په پام کې نېول شوې، چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله کې د افغانستان هوايي ډګرونو د پېژندنې لړۍ پيل شي او په هره ګڼه کې د افغانستان د هوايي ډګرونو څخه يو يې دروپېژندل شي، چې په دې ګڼه کې په خپل نوبت سره د کابل نړيوال هوايي دګر درپېژنو.



په ۱۳۰۰ ل کال د امان‌الله خان لخوا د افغانستان درې تنه پیاوړي افسران (جګړن محمد احسان خان، تورن غلام دستګیرخان او تورن محمد هاشم خان ایټالیا هېواد ته د هوایي زده‌کړو لپاره ولېږل شول، همدې دریو کسانو د کابل شیرپور سیمې په یوه هوایي ډګر کې، چې د افغانستان لومړنی هوایي ډګر یې بللی شو، د الوتکې لومړنی ناسته وکړه، چې د امان‌الله‌خان لخوا یې تود هرکلی وشو او ویل کېږي، چې پر احسان‌خان باندې چې د دې الوتکې پیلوټ و او دا هم د افغانستان له لومړنیو پیلوټانو څخه ګڼل کېږي، د سروزرو سکې وشیندلې.

اوس مهال افغانستان د درجه بندۍ په حساب څلور ډوله هوایي ډګرونه لري.

هغه هوایي ډګر چې په لومړۍ درجه کې راځي د کابل نړیوال هوایي ډګر دی. د احمد شاه بابا، خواجه عبدالله انصاري (رح)، جلال الدین محمد بلخي او د خوست نړیوال هوایي ډګرونه په دویمه درجه کې او نور هوایي ډګرونه بیا په دریمه او څلورمه کټه‌ګورۍ کې راځي. هغه هوایي ډګرونه چې د اقتصاد او سوداګرۍ له کبله تر ټولو وړاندې وي، په ګڼ‌نفوسه سیمو کې موقعیت ولري او د نورو هوایي ډګرونو په پرتله، لوړ ظرفیت ولري، په لومړۍ او دویمې درجې هوایي ډګرونو کې شمېرل کېږي.

هغه چې د ګرځندویۍ د جلب ظرفیت لري او په متوسط نفوسه سیمو کې جوړ شوي وي، د دریمې درجې هوایي ډګرونه ګڼل کېږي. څلورمه درجه هوایي ډګرونه هغه دي چې په کم‌نفوسه سیمو کې موقعیت لري او په ټیټ اقتصادي ظرفیت سره خدمتونه وړاندې کوي.

افغانستان دا مهال تر پینځه‌شپیتو پورې ملکي او نظامي هوایي ډګرونه لري، چې په دې کې د ۲۷ هوایي ډګرونو ساتنه او عملیاتي چارې د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت لخوا ترسره کېږي او د عملیاتو او ساتنې لپاره یې ملکي تشکیلات د دې وزارت تر چتر لاندې موجود دي. افغانستان تر دې وخته د کابل، احمد شاه بابا، خواجه عبدالله انصاري (رح)، جلال الدین محمد بلخي او خوست په نومونو پینځه نړیوال هوایي ډګرونه لري.

دا چې کابل نړیوال هوایي ډګر د افغانستان له لومړنیو هوایي ډګرونو څخه دی، د پېژندنې بسم‌الله به یې له همدې هوایي ډګر څخه وکړو:



# کابل نړیوال هوايي ډګر

هوايي ډګر هغه ځای دی چې د هر مسافر سفر له همدې ځایه پیل او پای ته رسېږي.
نو د هوايي ډګر ښه او په معیاري ډول جوړول او بیا پکې ټول اړین وسایل برابرول له مهمو کارونو څخه ګڼل کېږي او له بلې خوا د عایداتو مهمه سرچینه هم ګڼل کېږي، چې د هېواد په پرمختګ کې رغنده رول لري.
پرمختللي هېوادونه هڅه کوي چې هوايي ډګرونو باندې ډېره پانګونه وکړي او ټولې اړینې اسانتیاوې پکې برابرې کړي، چې په دې سره د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه ګرځندویانو ته د سفر پوره اسانتیا برابره کړي.
د کابل هوايي ډګر چې په لومړیو کې د خواجه رواش په نوم یادېده، په پلازمېنه کابل کې موقعیت لري. دا هوايي ډګر په لومړیو کې په خامه ډول جوړ شوی و، چې د هوايي ځواکونو نظامي الوتکو او د هوايي چلند موسساتو لخوا ترې ګټه پورته کېده. په ۱۳۳۳ل کال د اریانا افغان هوايي شرکت د (ډي سي-۳) الوتکو ترې ګټه پورته کوله او له دې سره په خوا کې د انډیمار (K L M) هالنډي ایرفلوټ او ځینو نورو هوايي شرکتونو هم له دې هوايي ډګر څخه خپلې الوتنې ترسره کولې. وروسته بیا د اریانا افغان هوايي شرکت ډي سي ۴ او ۶ لویو الوتکو هم له دې هوايي ډګر څخه ګټه پورته کوله.
د ۱۳۳۶ل کال په ژمي کې په دې هوايي ډګر کې د زیاتو واورو ورېدو له کبله ورته سخت زیان واوښت؛ ځکه دې هوايي ډګر په هغه وخت کې د کانالیزاسیون منظم سیستم نه درلود؛ نو تر اوبو لاندې او د الوتنو پر مخ وتړل شو.



د هغه وخت ملکي هوايي چلند رياست له نړۍ سره د اړيکو ټينګښت په موخه د جلال‌اباد هوايي ډګر ځخه ګټه اخيستنه پيل کړه او د شپږو اونيو لپاره د جلال اباد هوايي ډګر ځخه الوتنې ترسره کېدې او مسافر په سرويسونو کې په منظم ډول له کابله تر جلال اباده لېږدول کېدل، همدا و چې د خواجه رواش هوايي ډګر سروې وشوه او د شوروي اتحاد په مرسته يې په پراختيا کار پيل شو او د ۲۸۰۰ مترو په اوږدوالي او ۴۵ مترو په پراخوالي ځغاستليکه او د الوتکو تمځای يې په پاخه ډول جوړ او په ۱۳۴۲ل کال ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.
په ۱۳۵۴ل کال د الوتنو د اطلاعاتو مرکز او د ملکي هوايي چلند د مخابرې مرکز چې وړاندې په کندهار کې وو او هلته يې فعاليت درلود، کابل هوايي ډګر ته راولېږدول شو او له دې سره د الوتنو د څار او د هوايي ټرافيکو د کنټرول اسانتيا برابره شوه او وروسته د ګاونډيو هېوادونو د هوايي ټرافيکو د کنټرول له مرکزونو سره نېغ په نېغه اړيکه هم ممکنه شوه او د افغانستان ملکي هوايي چلند ارتباطي مرکز له تاشکند، لاهور، کراچۍ، تهران، امرتسر، ډهلي له مرکزونو سره ځانګړې اړيکه ټينګه کړه.
د ۱۳۴۳ ـ ۱۳۵۷ل کاله پورې د کابل نړيوال هوايي ډګر ځخه غوره ګټه اخيستنه پيل شوه؛ خو د اسانتياوو د محدوديت او د اړينو وسايلو د نشتوالي له کبله د شپې لخوا الوتنې نه ترسره کېدې او ډېری الوتنې تر ورځې پورې محدودې وې. د وخت په تېرېدو د الوتنو په شمېر او هوايي ليږدونو او تر څنګ يې په عبورې الوتنو کې هم زياتوالی راغی. د همدې پورته يادو شوو کلونو په بهير کې د اريانا افغان هوايي شرکت او باختر افغان الوتنه سربېره د ايروفلوت، ايران‌اير، پي‌آی‌اې، انډين ايرلاين ټي ام ای (لبنان) او چکسوالواکيا هوايي شرکتونو هم له دې هوايي ډګر ځخه الوتنې پيل کړې.
په ۱۳۵٦ل کال د (VOR -DMA) الوتکو د لارښوونې په پار په اسمايي غره کې د دولت په بوديجه د لارښوونې دستګاه ولګول شوه. دا چې له دې هوايي ډګر ځخه بايد لويو الوتکو ګټه پورته کړې وای؛ نو د وخت حکومت غوره وبلله چې په ياد هوايي ډګر او ترمينلونو کې پراختيا راشي او په ځغاستليکه کې يې پراخوالی راولي، په همدې موخه په ۱۳۵۷ل کال پرې د شوروي اتحاد لنينګراد (اوسنی پترزبرګ) پروژه‌جوړونې انسټيټيوټ متخصصانو له لورې پرې کار پيل شو.
د غويي له کودتا وروسته چې په ۱۳۵۷ل د غويي پر اوومه نېټه ترسره شوه، ټول سياسي حالت ورسره بدل شو او دا هوايي ډګر د ملکي موخو تر څنګ د نظامي موخو لپاره هم کارېده؛ نو له دې سره په ځمکنيو لارو د توکو لېږد ستوزمن شو، چې د هوايي ټرانسپورټ ارزښت ورسره زيات او د کابل هوايي ډګر ځخه په دې برخه کې لويه ګټه اخېستنه پيل شوه.

دا چې هغه وخت دې هوايي  ډګر ځراغونه نه درلودل او چاپېره ترې لوړ غرونه وو، نو ملکي الوتنې یې یوازې ورځې ته محدودې شوې؛ خو وروسته یکې کارونه ترسره شول، ځراغونه یکې ولګول شول او د ۳۵۰۰ مترو په اوږدوالي او ۴۵ مترو په پلنوالي یې ځغاستلیکه جوړه او د دې تر څنګ یکې دوه ترمینلونه، یو یې د کورنیو او بل یې هم د نړیوالو الوتنو لپاره جوړ شول.

دا چې کابل نړیوال هوايي ډګر د کابل د غرونو په منځ او د ګنې ګوڼې څخه په ډک ښار کې موقعیت لري؛ نو په ۱۳۴۸ل کال کې د افغانستان حکومت د (ملکي هوايي چلند ریاست) او نړیوال بانک تر منځ د یاد هوايي ډګر د پراختیا په موخه مخابرې سیستم او الوتکو د لارښوونې دستګاه هوکړه وشوه.

په ۱۹۷۰ز کال د نړیوال بانک تخنیکي او فني هیئت د نړیوال ملکي هوايي چلند سازمان د متخصصینو په همکارۍ او د ملکي هوايي چلند ریاست د کابل هوايي ډګر د تخنیکي او اقتصادي پلوه مطالعه او بررسي کړ، په پایله کې ښکاره شوه، که چېرې په پنځوس کیلو مترۍ کې داسې ځای چې نږدې غرونه و نه لري پیدا نه‌شو، بیا به همدې هوايي ډګر ته پراختیا ورکوي.

د سروې او مطالعاتو په پایله کې له کابل څخه ۴۵ کیلو متره لرې په لوګر ولایت کې ځای ورته غوره او د نړیوال هوايي ډګر لپاره د متخصصینو د خوښې او دلچسپۍ وړ وګرځېد.

د کابل نړیوال هوايي ډګر ځینې ستونزې چې متخصصینو ځرګندې کړې هغه دا وې، چې د شپې لخوا د الوتکو لارښوونه کول، چې چاپېره ترې د ۲۸۰۰ مترو په لوړوالي غرونه دي، یو پیچلي لارښود او برېښنايي سیستم ته اړتیا لري. بل لامل یې دا و چې د کابل نړیوال هوايي ډګر له ګڼې‌ګوڼې څخه په ډک ښار کې موقعیت لري، چې د الوتکو اوازونه د خلکو د اذیت لامل کېږي او که خدای مه‌کړه کومه هوايي پېښه رامنځته شي، ممکن ډېر مالي او ځاني زیانونه رامنځته کړي او له دې سره نورې هم داسې ستونزې وې، دې متخصصانو غوره وګڼله چې د کابل هوايي ډګر دې له خواجه رواش څخه لوګر ولایت ته ولېږدول شي؛ خو وروسته سیاسي بدلونونو او ځینې نورو ستونزو له کبله دې ته زمینه برابره نه‌شوه چې دا هوايي ډګر دې بل ځای ته ولېږدول شي.

په ۱۳۸۷ل کال د لړم په میاشت کې د جاپان هېواد لخوا د پینځه دیرش میلیونو ډالرو په مرسته د نړیوالو الوتنو لپاره نوی ترمینل جوړ شو. په ۱۳۹۳ل کال کې د کابل هوايي ډګر د وخت اداري لخوا د حامد کرزي نړیوال هوايي ډګر په نوم ونوماوه. دا چې په هغه وخت کې د افغانستان پر خاوره او فضا د امریکا او ناټو واکمني وه؛ نو له دې نړیوال هوايي ډګر څخه هم د افغانانو په ځیلو کې ګټه پورته کېده، څنګه یې چې څه زړه غوښتل، په همغه ډول یې له دې هوايي ډګر څخه ګټه پورته کوله. قاچاق ترې کېدل، نامعلومو ځایونو ته ترې الوتنې ترسره کېدې، د فضا کنټرول د دوی په لاس کې و، افغانان دې ته نه پرېښودای کېدل چې پر خپل اسمان او خپله ځمکه دې واک ولري، کوم امر او حکم چې د امریکا لخوا کېده، یوازې همغه چارې ترسره کېدې او افغانان نه پرېښودل کېدل، چې په خپلو پښو ودرېږي او د خپل هوايي ډګر مدیریت په خپل لاس کې واخلي.

په ۱۴۰۰ل کال د زمري میاشتې په ۲۴ نېټه، د اسلامي امارت له فتحې سره سم چې پر هېواد سپین بیرغ ورپېد، امریکا له خپلو وتلو سره لکه زخمي ښامار د هوايي ډګر ټولې برخې تخریب او ټول مهم تجهیزات یې له منځه یووړل، داسې برخه نه وه پاتې چې د دوی پر وحشي لاسونو دې تخریب شوې نه وي. دا هوايي ډګر داسې ښکارېده، چې د افغانستان د شل کلنې جګړې او وحشت ټول انځور یې وړاندې کاوه.

د اسلامي امارت لخوا ډېر په چټکۍ د دې هوايي ډګر پاکول او منظمول پيل شول، همدا و چې ډېر ژر د دوست اسلامي هېواد قطر تخنيکي ټيم کابل ته راورسېد او د هوايي ډګر د ځينو ښړنيو برخو په بيا رغولو يې لاس پورې کړ، مخابراتي سيسټمونو په فعاليت کې يې همکاري وکړه او له دې سره د افغانستان له دې مهم نړيوال هوايي ډګر څخه د حامد کرزي نوم ايسته او بېرته پر خپل پخواني نوم (کابل نړيوال هوايي ډګر) ونومول شو.

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له کار پيل کولو سره سم د نورو هوايي ډګرونو تر څنګ د کابل نړيوال هوايي ډګر ته پاملرنه زياته کړه، په کومو تخنيکي برخو کې چې د افغانانو تشه احساسېده، په تخنيکي برخه کې د دوی روزلو ته چټکه پاملرنه وشوه او د لا ښې روزنې په پار بېلابېلو بهرنيو هېوادونو ته ولېږل شول. دې کسانو د هوايي چلند د ځينو مهمو برخو چارې پر غاړه واخيستې او په پوره وياړ او هسک سر يې خپلو دندو ته دوام ورکړ او له دې سره په خوا کې د (ګاک) کمپنۍ سره د هوايي چلند امنيت، ځمکنيو او هوايي خدمتونو په برخه کې درې لوی تړونونه لاسليک شول او په دې تړونونو کې يو مهم شرط دا و چې په دې برخو کې به افغانان روزي، تر څو د دوی په وتلو او يا د تړون موده له پوره کېدو وروسته دا چارې پهخپله پر مخ يوسي.

د امريکايي اشغال پر مهال د افغانستان فضا ټوله نظامي اعلان شوې وه او د هېوادوالو د وېرې او مرګونو لامل وه؛ خو د امريکايي ځواکونو له وتلو وروسته د هېواد فضا بېرته ملکي اعلان شوه او د ملکي الوتنو عبور پيل شو. په دې وروستيو کې د VIP سالونونه بېرته ورغول شول او د سوداګرو لپاره ځانګړي VIP سالونونه، جوماتونه او برېښنايي پوړۍ (زينه)، همدا رنګه د ښکلا لپاره پکې څلورلارې، د اوبو فوارې او نورې چارې ترسره شوې.

د موټرو تمځايونه يې منظم کړای شول، پلې لارې يې ورغول شوې، اوس مهال ترې بېلابېلو هېوادونو او په کور د ننه هره ورځ الوتنې ترسره کېږي اوس مهال دا هوايي ډګر په يو وخت د سلو الوتکو د ځايېدو ظرفيت لري.

د کابل نړيوال هوايي ډګر اوس د افغانانو په لاس او واک کې دی، ټولې چارې يې د دوی لخوا مديريت کېږي، کابل نړيوال هوايي ډګر اوس مهال د افغانستان داسې يوه په زړه پورې دروازه ده، چې ټولې نړۍ سره د اړيکو د ټينګښت او ډېريو هېوادونو ته ترې الوتنې ترسره کېږي.



# تیر(TIR) ټرانزیټي سیستم

افغانستان چې په وچه کې راګیر هېواد دی او نشي کولی خپل توکي د هغو هېوادونو په څېر چې سمندر ته لاره لري، نړیوالو مارکېټونو ته په اسانۍ ورسوي، باید ځان له داسې یوې ځمکنۍ لارې سره ونښلوي، چې توکي یې په سمه توګه او اسانۍ سره د سیمې او نړۍ هېوادونو ته ورسېږي، چې دا کار په تیر (TIR[1]) ټرانزیټي سیستم کې ترسره کېدای شي.

تیر یا نړیوال واټ ټرانسپورټ په دې موخه جوړ شوی دی، چې سوداګریز توکي په چټکه توګه له ګمرکي رسمیاتو او احتمالي زیانونو پرته د سیمې او نړۍ هیوادونو ته ولېږدول شي.

له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د اروپا په اقتصاد کې یو ځل بیا ښه‌والی راغی او ځینو هېوادونو په خپلو کې سوداګریزې راکړې ورکړې پیل کړې؛ نو د سوداګرۍ د ودې او پراختیا لپاره د یو مناسب سیستم د رامنځته کولو لپاره عملي اقدامات ترسره شول، چې په همدې موخه محدودو هېوادونو چې شمېر یې اتو ته رسېده، په ۱۹۴۹ز کال کې د تیر ټرانزیټي سیستم رامنځته کړ، چې ۱۹۵۹ز کال د ملګرو ملتونو د اقتصادي همکارۍ شورا تر څارنې لاندې د تیر کنوانسیون لاسلیک شو او د نړۍ ډېری هېوادونه په دې کنوانسیون کې شامل شول.

دا سیستم په ۱۹۷۵ز کال کې نوی کړای شو او د غړو هېوادونو ترمنځ د ځمکني ټرانسپورټ د نړیوالې اتحادیې له‌خوا پلی کېږي او د سوداګریزو توکو د لېږد رالېږد لپاره د ویزې او یا اجازه‌نامې په توګه کار کوي. تیر(TIR) سیستم د سړک له نړیوالې اتحادیې (IRU[2]) څخه دی، چې اوس مهال په نړۍ کې ۷۴ هېوادونه د دغه سیستم لاندې فعالیت کوي.

1_Transport international Road

2_INTERNATIONAL ROAD TRANSPORT UNION



د تیر کارنیټ یو ګمرکي سند دی، چې د نړیوال ټرانزیټ لپاره توکي د (تیر) کنوانسیون په چوکاټ کې له مبداء هېواد څخه صادرېږي او له مخې یې توکي د لېږدوونکې وسیلې په واسطه مهر شوي د نورو هېوادونو تر منځ د سړک له لارې تېرېږي او بیا اړتیا نه پېښېږي چې د نورو هېوادونو په پولو کې وکتل شي. د تیر کنوانسیون سره سم باید لېږدوونکې وسیله له بارولو وروسته د مبداء هېواد په ګمرک کې معاینه او مهر شي او د TIR له نښې سره مستطیل ډوله پلیټونه د لېږدوونکې وسیلې مخکې او شا ته ولګول شي. د ناوړه ګټې اخیستنې د مخنیوي لپاره د کنوانسیون غړي باید یو بل ته د هغو مهرونو نمونې واستوي چې دوی یې کاروي.

لېږدوونکې وسیله او کانټینر هم باید د کنوانسیون په ضمیمو کې له ټاکل شوي معیارونو سره برابر وي.

تیر ټرانزیټي سیستم اوس له ۷۴ هېوادونو څخه ۱۷۰ غړي سازمانونه لري، له دې ډلې څخه یوازې ۶۸ غړیو هېوادونو د تیر ټرانزیټي سیستم تړون لاسلیک کړی او ۵۷ هېوادونه عملاً له همدې سیستم څخه کار اخلي.

افغانستان په۱۳۶۲ل/ ۱۹۸۳ز کال کې د تیر د کنوانسیون غړیتوب تر لاسه کړ؛ خو د نا مساعده شرایطو له کبله ددې سازمان یو غیر فعاله غړی و. په ۱۳۹۲ل/۱۳/۶/ بېرته دا سیستم فعال شو. د تیر سیستم پر کارولو هغه ستونزې چې د ګاونډیو هېوادونو ګمرګات یې د افغانستان لپاره ایجادوي، تر ډېره بریده د حل لار مومي.

دا سیستم د نړیوال ټرانزیټ او ټرانسپورټ په برخه کې اساني رامنځته کوي او د سرغوچو سوداګریزو توکو د ټرانزیټ او ټرانسپورټ لپاره د ویزې یا جواز په توګه د ورته کړنلارې لاندې کار کوي.

له بلې خوا افغانستان د طبیعي او معدني زېرمو له پلوه بډای هېواد دی او ښه کرنیز محصولات هم لري؛ نو د دغه سیستم له فعالېدو سره افغان سوداګر او پانګوال کولای شي په اسانۍ سره په لږ لګښت او کم وخت سره خپل محصولات له ګمرکي کړنلارې پرته د سیمې هېوادونو او اروپا ته صادر کړي، چې دا د افغانستان د اقتصادي وده او پراختیا کې مهم رول لري.



# له الوتکو سره د مرغانو ټکر

انسان په لومړيو کې له مرغانو د الوتلو فکر واخيست؛ خو اوس په هوا کې کله کله د انسان د لاس جوړو کړو الوتکو او مرغانو تر منځ ټکر رامنځته کېږي، ممکن تاسې حيران شی چې څنګه دومره وړوکی او کمزوری موجود دومره لويې اوسپنيزې الوتکې ته زيان رسولای شي؛ خو دا وړوکی مرغه کولی شي چې يوې لويې الوتکې ته زيان ورسوي او تر څنګ يې ځاني او مالي زيانونه هم رامنځته کړي. دا پېښې هغه وخت رامنځته کېږي، چې الوتکې په هوايي ډګر کې د ناستې لپاره ښکته کېږي او يا هغه وخت چې الوتکه له هوايي ډګر څخه پورته کېږي. په داسې وخت کې مرغان د الوتکو له بېلا بېلو برخو لکه لکۍ، شيشې، کابين، وزرو او يا نورو برخو سره لګېږي. له الوتکو سره د الوتونکو يا مرغانو ستونزه له ډېر وخت راهيسې راروانه ده او د هوايي ټرانسپورټ په برخه کې له لويو ستونزو او ننګونو څخه ګڼل کېږي. کله چې د رايټ ورونړو په لومړي ځل الوتکه جوړه کړه، ورته معلومه شوه چې د هوا مرغان به دې وسيلې ته يو څه ستونزه جوړه کړي. څېړنو ښودلې چې ډېری مرغان د هغو تجربو پر اساس چې له ډېر وخت راهيسي يې د خپلو الوتنو په پايله کې ترلاسه کړې ده، له هغه ځايه چې الوتکې پرې تېرېږي، ځان لرې ساتي؛ خو هغه مرغان چې مهاجر وي او د موسمونو د بدلون له کبله له يوې سيمې بلې ته مهاجرت کوي، دوی له دې اوسپنيزې الوتکې سره ټکرېږي. د امريکا د الوتنې ادارې په ۲۰۱۲ز کال اعلان وکړ، چې په ٦٥٠ هوايي ډګرونو کې له کابو ۱۱۰۰۰ مرغانو سره ټکرونه رامنځته شوي، چې په پايله کې يې زيات ځاني او مالي زيانونه پېښ شوي دي. د مرغانو ټکر په عموم کې لويو الوتکو ته زيات خطر پېښولای شي؛ ځکه مرغان د لويو الوتکو انجن ته په اسانۍ ورننوتلی، انجن فلج کولی او خرابوالی پکې راوستلی شي. د څېړنو په پايله کې ښکاره شوې، چې له مرغانو سره د الوتکو ټکر ډېر کله هغه وخت پېښېږي چې الوتکه له ځمکې سره نږدې او ډېره نه وي لوړه شوې. يوه له مشهورو پېښو څخه يې چې د الوتکې سره الوتونکو د ټکر له امله ترسره شوې ده، د مسټر هډسن پېښه وه، چې په ۲۰۰۹ز کال د جنوري په ۱۵ نېټه د (۳۲۰A) الوتکې چې د کپتان چزلي سالنبرګر او پيلوټ جفري اسکيلز له خوا چلېده، د نيويارک د لاګواردي هوايي ډګر(LaGuardia Airport) څخه د الوتنې څخه لږ وروسته د مرغانو له يوه لوی سيل سره ولګېده، چې په پايله کې د الوتکې د ماشينونو د بندېدو لامل وګرځېد او پيلوټ يې اړ شو، چې د هوډسن (Hudson)په سمندر کې بيړنۍ ناسته وکړي او په الوتکه کې د سپرو ۱۵۵ کسانو ژوند وژغوري. دا پېښه په تاريخ کې د هوډسن په نوم پېژندل شوې ده.



دې پېښې وښودله چې حتا د کوچنيو مرغيو سره ټکر کولی شي الوتکې او د هغې مسافرينو ته جدي زيان ورسوي او د الوتکو سره د الوتونکو د ټکر د مخنيوي په اهميت ټينګار کوي. دې پېښې په هوايی ډګرونو او د الوتنې په ساحو کې د الوتونکو خونديتوب ته پاملرنه زياته کړه او د فدرالي هوايي چلند ادارې (FAA[1]) او د اروپا هوايي ادارې(EASA[2]) مشرتابه يې دې ته اړ کړ، چې د مخنيوي او خطر مديريت ته وهڅېږي.
له پورته يادې شوې پېښې وړاندې په لسګونو داسې پېښې ثبت شوې دي چې د مرغانو سره د ټکر له امله الوتکو اور اخيستی او په لسګونو کسانو ته پکې مرګ‌ژوبله اوښتې ده.
د رسنيو په حواله په ۲۰۲۰ز کال د اکتوبر په ۲۷ نېټه يوه امريکايي الوتکه د افغانستان هرات ولايت کې د خواجه عبدالله انصاري هوايي ډګر کې د ښکته کېدو پر مهال د مرغانو له يوه سيل سره مخ شوه چې په پايله کې يې الوتکې سقوط وکړ، چې دوه کسان پکې ووژل شول او څو نور پکې سخت ټپيان شول. له الوتکو سره د مرغانو ټکر په عموم کې يوه لويه ستونزه ده چې دوامداره تحليل، د ټيکنالوژۍ پراختيا، د هوايي چلند صنعت څېړونکو او تنظيموونکو چارواکو تر منځ همکارۍ ته اړتيا لري او د دې برخې کارپوهان يې يوه حل‌لاره دا هم ښيي، چې داسې الوتکې بايد ډيزاين شي چې مقاومت يې لوړ وي، تر څو د مرغانو سره د ټکر پر مهال ورته زيان و نه رسېږي او د دې تر څنګ پيلوټانو ته هم په همدې اړه روزنه ورکړل شي، تر څو هغه سيمې وپيژني، چې هلته د مرغانو سره د ټکرېدو خطر زيات وي.
په ځينو هوايي ډګرونو کې د مرغانو د شړلو لپاره له بېلابېلو وسايلو کار اخېستل کېږي، بازان ورته روزي چې د هوايي ډګر په فضا کې نور مرغان ژر ښکاروي او وېروي. همدا رانګه د رادار په وسيله هم د مرغانو مخنيوی کېږي. د دې ستونزې د مخنيوي په پار ځينو هېوادونو ربوټيک مرغان ډيزاين کړي دي چې د مرغانو د وېرولو لپاره د هوايي ډګر شاوخوا ګرځي او په ډېريو هوايي ډګرونو کې د Wild Life په نوم يوه څانګه فعاله وي، چې د الټراسونيک څپو په مرسته کار کوي او مرغانو د وېرولو او هوايي ډګرونو څخه د لرې کولو لپاره کارول کېږي.
په چاپېريال کې د مرغانو شتون هم خورا مهم دی، بايد په هوايي ډګرونو کې داسې يوه لار ورته غوره شي، چې نه ځاني او مالي زيانونه رامنځته شي او نه هم د مرغانو ښکليو سيلونو ته زيان واوړي، ممکن په دې کې ځينې داسې ارزښناکه مرغان هم وي، چې په نړۍ کې کمساري او شمېر يې ډېر کم وي.




Federal Aviation Administration
European Union Aviation Safety Agency



# په خان اباد او کندوز کې لومړني بایسکلونه

خان اباد ته د شېرخان بابا له تشریف راوړلو کابو یو کال وروسته موږ راغلو. په لومړي کال د ګوتو په شمار زلمو بایسکلونه درلودل، چې یا به ښوونځي ته وربانديې سپاره راتلل، یا به یې د مازدیګر په مخه په عمومي باغ کې وربانديې چکر وواهه. بایسکل ورو ورو ډېرېدل.

په کندوز کې هم د نوي ښار له جوړېدو سره راپیدا شول خو تر څو کلونو پورې ډېر نه ول، بیا نړیوال جنګ د بایسکلونو واردېدل په ټپه ودرول. له جنګه وروسته کال په کال ډېر شول، حتا په کلیو کې هم د بایسکل شوقیان پیدا شول او بایسکل په یوه ضرورت بدل شو.

په هغو کلونو کې بایسکل هم د موټرونو غوندې نمبر پلېټ درلود چې د سایکل د عرادې په لښتو پورې به کلک شوی و.

ځوانانو به بایسکل په وړو وړو رنګه ګروپونو ښکلي کول. زرین زرین پوښونه به یې ورته جوړول او نورې نخرې به یې پرې کولې چې سایکل وربانديې ښکلی ښکاره شي او خپل ذوق نورو ته وښوولی شي. د هغه وخت بایسکلونه امبر، رایل، سه تفنګ (چې اصلي نوم یې نه دی معلوم) او ارکلیس وو. په ټولو کې امبر، ورپسې رایل او نورو ارزښت درلود، دا سایکلونه لکه چې انګریزي ول. په وروستیو کلونو کې سایکل سپاره ډېر شول. د سایکل ځغلولو مسابقې به هم په جشنونو کې کېدې. ځینې داسې کسان هم پیدا شول چې په سایکلونو به یې عجیبې نخرې کولې او نندارچیانو به یې په ډېر شوق ننداره کوله.

(د استاد محمد صدیق پسرلي د «کندز په تېره پېړۍ کې» له کتاب څخه)

استاد محمد صدیق پسرلی د مور له‌خوا د شېرخان لمسی کېده؛ نو د شېرخان سره تر ډېره یو ځای پاتې شوی دی، د ده هڅې او کندوز ولایت ته خدمتونه یې پر خپلو سترګو له نږدې لېدلي او کښلي دي.



# آیا میدانید اولین موتر در کدام سال ساخته شد؟

مشخص کردن این‌که، اولین موتر جهان در کدام سال اختراع و ساخته شد، مشکل است. این اختراع مرتبط به گذشته‌ی بشر و رشد تدریجی آن است. از آغاز با آثار هنری که نشان‌دهنده علاقه به قدرتی بیشتر از انسان و حیوانات است، گرفته تا ایده‌های نابی که توسط هنرمندانی مانند؛ لئوناردو داوینچی مطرح شده است.

این ایده‌ها در طول زمان به تدریج به اختراع‌موتر منجر شد، اما دقیقاً کدام اختراع باید به عنوان اولین اختراع موتر جهان تلقی شود، امری‌که همچنان موضوع قابل بحث و گفتگو است.

در اوایل قرن هجدهم میلادی، تلاش‌های اولیه برای استفاده از انرژی مستقل از حیوانات و انسان‌ها برای حرکت آغاز شد.

گادی‌ها به عنوان وسیله نقلیه شهری مطرح بود، اما ابتدایی بودند و کارآیی متفاوتی نداشتند.

در سال ۱۷۶۹م، نیکولس جوزیف کوگنوت (Nicholas-Joseph Cugnot) تراکتوری بخاری ساخت، اما با موفقیت چندانی همراه نبود.

در قرن نوزدهم، تلاش‌ها برای ساخت وسایل نقلیه با استفاده از انرژی بخار ادامه داشت. امیدی بولی (Amedee Bollee) در سال ۱۸۷۳م موتر بخاری توانمندی ساخت که برای حمل و نقل افراد از یک مکان به مکان دیگر مناسب بود. همچنان، در ایالات متحده، دکتر کارهارت در همان دوران، ماشین بخاری اختراع کرد که جایگاه مهمی در تاریخ نقلیه داشت.

در سال ۱۷۶۷م، نیکولس جوزف کوگنوت اولین موتر واقعی را ساخت که با نیروی بخار حرکت می‌کرد و قادر به حمل اموال و انسان بود. این موتر دارای سرعتی حدود ۸/۷ کیلومتر بر ساعت بود و اولین حادثه ترافیکی موتر هم مربوط به آن است.

در سال ۱۸۸۸م، آندریاس فلوکن نیز اولین موتر الکتریکی را معرفی کرد. اما اختراع مهمی در زمینه ماشین‌های احتراق داخلی در سال ۱۸۸۵م توسط کارل بنز صورت گرفت. او اولین موتر را اختراع و ساخت، این موتر از نظر ظاهری به موترهای امروزی شباهت داشت و باعث آغاز دوران ساخت موترها شد.

# رت ترانسپورت و هوانوردی

## فعالیت‌ها و دست‌آوردها

- د هوايي چلند په برخه کې نوي پرمختګونه او نوې هیلې
- سږ کال ۳۰ زره حاجیان د حج فریضې لپاره ولېږدول شول
- تقویت ظرفیت‌ها در بخش هوانوردی
- پلانگذاری و تطبیق پروژه‌ها
- د څه باندې ۵۰۰۰ موټرو تخنیکي چک ترسره شوی دی
- په درېیو میاشتو کې څه کم ۲۵۰۰ کورنۍ خپلو سیمو ته...










# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزا

## کړنې او لاسته‌راوړنې

- تطبیق لایحه کرایه در ترمینل‌ها
- څه باندې ۲۰۰ ټرانسپورټي شرکتونو او نمایندګیو ته د فعالیت اجازه لیکونه ورکړل شول
- ایجاد و توسعه هده‌های ترانسپورتی
- په تېرو دریو میاشتو کې څه کم اتیا ټرانسپورټي شرکتونه رامنځته شوي دي
- د بشري سرچینو ریاست له لورې جوړ شوي سمینارونه او روزنیز پروګرامونه
- توسعه روابط ترانسپورتی افغانستان با کشورهای همسایه



۰۳



# د هوايي چلند په برخه کې نوي پرمختگونه او نوې هیلې




د ۱۴۰۳ل کال د دريو مياشتو په موده کې د هوايي چلند او هوايي ډگرونو د ښيا رغولو په برخه کې د پام وړ کړنې او پرمختگونه ترسره شوي دي، چې تاسې يې دلته لوستلی شئ: ترکيش هوايي شرکت له څه باندې څلور کلن ځنډ وروسته بېرته پلازمېنې کابل ته خپلې الوتنې پيل کړې او له دې سره د افغانستان او ترکيې تر منځ د هوايي ټرانسپورټ او سوداگريزو اړيکو نوی ځپرکی پرانېستل شو. په هغه غونډه کې چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له لورې کابل نړيوال هوايي ډگر کې په همدې تړاو جوړه شوې وه، د ياد وزارت مالي او اداري معين حافظ صديق‌الله عابد، د هوايي ډگرونو لوی رئيس الحاج عبدالستار غروال، په کابل کې د ترکيې سفير جنک اونال او د وزارت يو شمېر نورو مسئولينو گډون درلود، ښاغلي جنک‌اونال په خپلو خبرو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت څخه مننه وکړه او زياته يې کړه، "د دواړو هېوادونو تر منځ اړيکې د پراخېدو په حال کې دي. له دې سره به نه يوازې د دواړو هېوادونو تر منځ اړيکې پياوړې شي، بلکې سوداگريزې، فرهنگي او سياحتي اړيکې به هم ورسره پراخې شي. د ترکيش هوايي شرکت الوتنو پيل د ترکيې او افغانستان تر منځ يو نوی دور پرانيزي." د ترکېش هوايي شرکت به هره اونۍ د کابل او استانبول تر منځ څلور الوتنې په سه‌شنبه، چهارشنبه، پنجشنبه او جمعې په ورځو کې ترسره کوي، چې له دې سره به ترکيې ته د افغان مسافرو لپاره د سفر پر اسانتياوو سربېره د دواړو هېوادونو ترمنځ هوايي ټرانسپورټ او سوداگريزې اړيکې هم پراختيا ومومي. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده په خپل کاري دفتر کې په کابل کې د ترکيې سفير جنک‌اونال، د ترکېش هوايي شرکت ساحوي رئيس محمود يايلا او مل پلاوي سره په يوه جلا ليدنه کې کابل ته د ترکېش هوايي شرکت الوتنو پيلېدل د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو پراختيا لپاره مهم وگڼل. همدا راز د ياد شرکت مسئولينو د کابل نړيوال هوايي ډگر له خدمتونو خوښي څرگنده کړه او په راتلونکې کې يې د مولانا جلال‌الدين محمد بلخي هوايي ډگر ته د الوتنو پيل په اړه هم خبرې وکړې.
تر دې وړاندې هم کابل ته د ايرعربيه، فلای دوبۍ او ځينې نورو هوايي شرکتونو خپلې الوتنې پيل کړې وې.



په دې موده کې بله د خوښۍ خبره دا وه چې د کام‌ایر هوايي شرکت لخوا هم د خوست نړیوال هوايي ډګر څخه دوبۍ ته مخامخ الوتنې پیل شوې، یاد هوايي شرکت به په اونۍ کې دوه الوتنې ولري، چې شنبې او پنجشنبې په ورځو ترسره کېږي. تر دې وړاندې یوازې د آریانا افغان هوايي شرکت کولی شول چې له خوست هوايي ډګر څخه الوتنې وکړي. د کام‌ایر هوايي شرکت د الوتنو له پیل سره به د خوستوالو ډېرې ستونزې حل او مسافرو ته به د پام وړ اسانتیا برابره شي.

په ۱۴۰۳ل د غویي میاشتې په څلورمه نېټه د سه‌شنبې په ورځ د احمدشاه‌بابا نړیوال هوايي ډګر څخه د ترینکوټ هوايي ډګر ته لومړۍ الوتنه ترسره شوه.

د ترینکوټ هوايي ډګر د اسلامي امارت په واکمنېدو له اړینو اسانتیاوو برخمن شوی دی، مسافر او ګرځندویان دغه هوايي ډګر ته په ډاډه زړه خپل سفر کوي.



همدارنګه د کابل نړیوال هوايي ډګر په نړیوال ترمینل کې یوه برېښنايي پوړۍ په ۷میلیونه او ۲۰۰ زره افغانیو او د خصوصي سکټور په مرسته د ښکلا په پار د اوبو فواره د ۲۵۰ زره افغانیو په لګښت د دوو میاشتو په موده کې جوړه او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت یو شمېر مسئولینو په ګډون ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د دې تر څنګ د تخار ولایت په تالقان هوايي ډګر کې د الوتکو لپاره د رمپ نوې ساحه په اساسي ډول جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. یاد هوايي ډګر چې تر دې وړاندې یې د رمپ ساحه نه درلوده، له دې سره به د الوتکو د درېدلو ستونزه حل او الوتکو ته به پوره اسانتیا رامنځته شي او د دې تر څنګ د بدخشان ولایت په کران منجان هوايي ډګر کې هم د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا هوايي کربڼه جوړه او پرانېستل شوه

## تطبیق لایحه کرایه در ترمینل‌ها



درباره تطبیق لایحه کرایه وسایط مسافربری و باربری نشست مشترک برگزار شد. به ریاست الحاج ملا عبدالسلام حیدری، معین ترانسپورت جاده‌ای وزارت ترانسپورت و هوانوردی با نمایندگان برخی وزارت‌ها (اعضای کمیته مرکزی تثبیت لایحه کرایه) در راستای اجرای حکم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله در مورد لایحه کرایه وسایط نقلیه نشست مشترک برگزار گردید.

در این نشست میان اعضای کمیته درباره مسوده تثبیت کرایه، رهنمود و آگاهی دهی کرایه، تطبیق و نظارت کرایه بحث و تبادل نظر صورت گرفت و تصامیم لازم اتخاذ شد. همچنان رئیس تنظیم و عرضه خدمات ترانسپورتی با اعضای کمیته تثبیت لایحه کرایه، برخی نمایندگان شرکت‌های ترانسپورتی و رانندگان درباره تطبیق لایحه کرایه وسایط باربری بین‌الولایتی پی هم دو نشست برگزار کرد.



در این نشست‌ها، وضعیت جاده‌های کشور مورد بررسی قرار گرفت و با در نظر گرفتن هزینه‌ها و نوعیت وسایط نقلیه، درباره تطبیق و آگاهی دهی لایحه کرایه وسایط باربری بین‌الولایتی بحث شد و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

از سوی هم کارمندان ریاست عمومی تنظیم‌ترانسپورت جاده‌ای کابل در روزهای عید در تمام ترمینل‌ها، هده‌ها و بنادر ترانسپورتی که از کابل به ولایات مختلف مسافر انتقال می‌دهند، از تطبیق لایحه کرایه که قبلاً تثبیت شده، به‌طور دقیق و منظم نظارت نمودند.

قابل ذکر است که از سوی کارمندان مربوط در هده ها،ترمینل‌ها و بنادر به‌طور۲۴ساعته خدمات ترانسپورتی ارایه می‌شود.







### څه باندې ۲۰۰ ټرانسپورټي شرکتونو او نمایندګیو ته د فعالیت اجازه لیکونه ورکړل شول

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا د تېرو درېو میاشتو په موده کې څه باندې ۲۰۰ ټرانسپورټي شرکتونو او نمایندګیو ته د فعالیت اجازه لیکونه ورکړل شوي، ټرانسپورټي شرکتونه په پوره لېوالتیا غواړي خپل شرکتونه د یاد وزارت د نوي طرزالعمل سره سم ثبت او راجستر کړي او د دې تر څنګ د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت یوه خبرتیا خپره کړه چې په ترڅ کې یې د ټولو ټرانسپورټي اتحادیو حقوقي شخصیت لغوه اعلان شو، دفترونه او نمایندګۍ یې وتړل شوې.

### سږ کال ۳۰ زره حاجیان د حج فریضې لپاره ولېږدول شول

د هېواد له څلورو نړیوالو هوايي ډګرونو څخه څه باندې دېرش زره حاجیان سعودي عربستان ته د حج فریضې ادا کولو په موخه په پوره بریالیتوب سره ولېږدول شول، چې له کابل نړیوال هوايي ډګر څخه (۱۰۹۱۴)، له(مولانا جلال‌الدین محمد بلخي نړیوال هوايي ډګر) څخه (٦٣٣٦)، د هرات له (خواجه عبدالله انصاري نړیوال هوايي ډګر) څخه (۴۸۴۴) او د کندهار له (احمدشاه بابا نړیوال هوايي ډګر) څخه (۷۹۴۵) تنه لېږدول شوي دي، چې د ټولو شمېر څه باندې دېرش‌زره کسانو ته رسېږي او په ۱۸۸ الوتنو کې لېږدول شوي دي.

یاده پروسه د ۱۴۰۳ل د غویي میاشتې په ۲۰نېټه پیل او یوه میاشت یې دوام درلود.



### د بشري سرچینو ریاست له لورې جوړ شوي سمینارونه او روزنیز پروګرامونه

د بشري سرچینو ریاست د ظرفیت لوړونې څانګې له خوا د روان کال په درېیو لومړنیو میاشتو کې د اړوندو ریاستونو، وزارتونو او ځینو هېوادونو په همکارۍ د عوایدو راټولولو پر سیسټمونو، ټرانسپورټي کړنلارو، تدارکاتي مالي او حسابي، مدیریتي او د ټرانسپورټ او هوايي چلند اړوند بېلابېل سمینارونه او روزنیز پروګرامونه جوړ شوي دي، چې نږدې ۲۵۰ کارکوونکو پکې برخه اخیستې ده او ځینې کارکوونکي د لنډمهاله زده‌کړو لپاره بهرنیو هېوادونو لکه چین او تایلینډ ته هم استول شوي دي.

## تقویت ظرفیت‌ها در بخش هوانوردی




مراسم استخدام وظیفوی فارغان انستیتوت هوانوردی ملکی برگزار گردید.
محفل استخدام وظیفوی ۸۵ تن از فارغان سال ۱۴۰۲ انستیتوت هوانوردی ملکی در بخش‌های تخنیکی میادین هوایی کشور با حضور مولوی فتح‌الله منصور معین عملیاتی، حافظ صدیق‌الله عابد معین مالی و اداری، شیخ عبدالباقی حقانی رئیس اداره ملی امتحانات، مولوی غلام حیدر شهامت رئیس اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی و برخی رئیسان وزارت ترانسپورت و هوانوردی برگزار شد.
در این مراسم مسئولان وزارت ترانسپورت و هوانوردی تاکید کردند که تلاش می‌شود تا ظرفیت های داخلی در بخش هوانوردی تقویت شود و به هدف تخصصی ساختن میدان‌های هوایی کشور این جوانان آموزش دیده جذب شده اند. این فارغان که در مدت دو سال در بخش‌های خدمات ترافیک هوایی و تخنیک هوانوردی آموزش علمی و عملی را فرا گرفته اند، در ۲۷ میدان هوایی کشور به کار گماشته شدند.



وزارت ترانسپورت و هوانوردی به هدف خودکفایی بخش های هوانوردی و تخنیکی میادین کشور، این فارغان را استخدام کرده است. از سوی‌هم برای پوهنځی شبانه انستیتوت هوانوردی ملکی از نزد ۲۰۰ داوطلب امتحان کانکور اخذ شد. آنانیکه در این امتحان کامیاب شدند، در بخش مدیریت هوانوردی این انستیتوت جذب و به مدت دوسال در زمینه مربوطه آموزش داده می‌شوند.
همچنان ۱۵۰۰ داوطلب دیگر از چهار زون کشور در امتحان کانکور سال تعلیمی ۱۴۰۳ انستیتوت هوانوردی ملکی شرکت کردند که ۱۵۰ تن توانستند در دیپارتمنت‌های ترانسپورت زمینی، هواشناسی، تخنیک هوانوردی (CNS)، کنترول ترافیک هوایی (ATC) و اطفائیه انستیتوت هوانوردی ملکی راه پیدا کنند که به مدت دو سال به‌طور علمی و عملی آموزش داده می‌شوند.
قابل ذکر است که به‌هدف سلامتی محصلان، در این انستیتوت یک باب کلینیک صحی مطابق به معیارهای صحت عامه ایجاد شده است که محصلان بیمار می‌توانند با مراجعه به آن تداوی شوند.



# ایجاد و توسعه هده‌های ترانسپورتی

به سرپرستی الحاج ملا عبدالسلام حیدری، معین ترانسپورت جاده‌ای در یک نشست مشترک با نمایندگان ریاست عمومی ترافیک، توافق شد که بخاطر نظم ترانسپورتی و جلوگیری از ازدحام در شهر کابل، مسیرهای مشخص برای بس‌های شهری و تکسی‌ها تعیین شود. این اقدام نه تنها نظم شهری را بهبود می‌بخشد بلکه فرصت‌های کاری را برای شرکت‌های خصوصی ترانسپورت شهری نیز فراهم می‌کند.

ریاست تنظیم ترانسپورت عامه شهری به‌هدف بهبود نظم و جلوگیری از ازدحام در شهر، در تمام بخش‌های شهر کابل توقف‌گاه‌های مشخص تعیین کرده‌است.

این ریاست در ساحه کمپنی یک هده جدید برای وسایط مسافربری ولسوالی پغمان ایجاد کرده که مسافرین می‌توانند با استفاده از آن به‌راحتی به شهر رفت و آمد کنند. این درحالیست که پیش از این وسایط مسافربری پغمان هده مشخص نداشتند و از کنار جاده مسافر را انتقال می‌دادند که باعث ازدحام شهر شده بود.

همچنان این ریاست برای وسایط مسافربری مسیر احمدشاه بابا مینه-سینماپامیر در استیشن ترانسپورتی احمدشاه بابا یک توقف‌گاه جدید تعیین کرده‌است. باشندگان شهر کابل از ایجاد این توقف‌گاه خرسند اند و باور دارند که در راستای بهبود نظم شهری یک اقدام موثر است.

این ریاست در ساحه پنجصد فامیلی شهر کابل نیز برای یازده مسیر ترانسپورتی یک هده جدید ایجاد کرده که از آن مسافرین میتوانند به راحتی رفت و آمد کنند.

ریاست تنظیم ترانسپورت عامه شهری برای وسایط مسافربری دشت برچی و چهارراهی قمبر نیز توقف‌گاه جدید تعیین کرده که با ایجاد این هده برای رانندگان و مسافرین این مسیر سهولت فراهم شده که پیش از این وسایط مسافربری دشت برچی و چهارراهی قمبر در کنار جاده فعالیت داشتند.





در همین حال ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای کابل هده وسایط مسافربری ولایت‌های خوست، پکتیا، پکتیکا و لوگر را به منطقه سنگ نوشته انتقال داد. در این هده برای مسافرین و رانندگان سهولت‌های لازم فراهم شده است که به‌طور ۲۴ ساعته خدمات ترانسپورتی ارایه می‌شود.
فعالیت تکسی‌های رنگ جدید از کابل به ولایات مرکزی آغاز شد. پس از ولایت‌های مشرقی و شمال کشور، این بار فعالیت تکسی‌های رنگ جدید از هده ترانسپورتی دشت‌برچی به ولایت‌های میدان وردک، غزنی و بامیان آغاز شد. شهروندان خرسند اند که با آغاز فعالیت این تکسی‌ها، خدمات ترانسپورتی در کشور بهبود می‌یابد.
آمریت ترانسپورت جاده‌ای ولایت پروان برای مسافرین مرکز و ولسوالی‌های این ولایت دو هده وسایط مسافربری افتتاح کرد. هده‌های اتفاق غوربند و اتفاق پروان با سهولت‌های لازم به‌منظور تسهیل در رفت و آمد میان شهر چاریکار، ولسوالی‌ها پروان و سایر ولایات ایجاد شده است.
همچنان وزارت ترانسپورت و هوانوردی بخش‌های از هده ترانسپورتی ولایت لغمان را بازسازی کرد. هموارکاری محوطه داخل هده، دیوار احاطه، نصب سایه‌بان برای وسایط و آسفالت سرک داخل محوطه شامل بخش‌های بازسازی بوده که با تکمیل شدن آن برای رانندگان و مسافرین سهولت‌های بیشتر فراهم شده‌است. ترانسپورت شهری ولایت پکتیا توسعه می‌یابد. هیئت وزارت ترانسپورت و هوانوردی در نشستی مشترک با مسئولان ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای پکتیا جهت بهبود نظم و توسعه ترانسپورت شهری، یک قطعه زمین برای اعمار یک ترمینل مسافربری در این ولایت مشخص کرده است. در این نشست در باره انتقال هده‌ها از داخل شهر گردیز به اطراف آن نیز بحث صورت گرفته است.
دو شرکت ترانسپورتی مسافربری در ولایت بلخ فعالیت خود را در مسیر مزارشریف-شبرغان آغاز کرد. این شرکت ها مطابق به معیارهای ترانسپورتی و مقررات وزارت ترانسپورت و هوانوردی ثبت و راجستر شده اند و خدمات معیاری را به مسافرین ارایه می‌کنند. همچنان شرکت ترانسپورتی خلم میلاد نیز در ولایت بلخ فعالیت خود را آغاز کرد. این شرکت مطابق به طرزالعمل وزارت ترانسپورت و هوانوردی ایجاد شده که مسیرهای بلخ-هرات و بلخ-جوزجان توسط این شرکت ترانسپورتی پوشش داده می‌شود. شرکت مذکور فعالیت خود را در حضور داشت مسئولان ترانسپورت بلخ رسماً افتتاح و آغاز کرده است.




# توسعه روابط ترانسپورتی افغانستان با کشورهای همسایه

سرپرست وزارت ترانسپورت و هوانوردی در نشست شش جانبه که در کشور اوزبیکستان برگزار شده بود، اشتراک کرد.

الحاج ملا حمیدالله آخندزاده، سرپرست وزارت ترانسپورت و هوانوردی جهت ملحق شدن به دهلیزی شش جانبه، در رأس یک هیئت به اوزبیکستان سفر کرد و در نشست شش جانبه که میان کشورهای افغانستان، روسیه، بلاروس، پاکستان، قزاقستان و اوزبیکستان برگزار شده بود اشتراک نمود.

در این نشست هیئت افغانستان با هیئت دیگر کشورها در باره توسعه انتقالات از مسیر دهلیز شش جانبه میان کشورهای (افغانستان، روسیه، بلاروس، پاکستان، قزاقستان و اوزبیکستان) بحث نمود و در حاشیه این نشست سرپرست وزارت ترانسپورت و هوانوردی با معینان وزارت ترانسپورت روسیه و بلاروس نیز دیدار کرد.

الحاج ملا حمیدالله آخندزاده در دیدار با معینان وزارت ترانسپورت کشورهای روسیه و بلاروس درباره گسترش انتقالات ترانزیتی میان افغانستان و روسیه، افغانستان و بلاروس و فراهم شدن تسهیلات ترانسپورتی گفت‌وگو کرد. در این سفر سرپرست وزارت ترانسپورت و هوانوردی با وزیر ترانسپورت و نماینده خاص رئیس جمهور اوزبیکستان در امور افغانستان نیز دیدار داشت و در باره گسترش انتقالات ترانسپورت جاده‌ای میان دو کشور بحث نمود.

همچنان، سرپرست وزارت ترانسپورت و هوانوردی با هیئت قزاقستانی به ریاست سریک ژومانگارین، معاون صدراعظم قزاقستان، دیدار کرد. در این دیدار، دو طرف درباره تقویت و توسعه روابط ترانسپورتی میان افغانستان و قزاقستان، اتصال آسیای جنوبی و مرکزی از طریق افغانستان و فراهم شدن تسهیلات ویزا برای رانندگان افغان بحث و گفتگو نمودند.




دو جناح در این دیدار توافق کردند که یک تیم فنی مشترک از دو طرف برای پیگیری این موضوعات تشکیل شود.
در کنار این، میان الحاج ملا حمیدالله آخندزاده، سرپرست وزارت ترانسپورت و هوانوردی و هیئت ترکمنستانی به سرپرستی محمدخان چاقییف، رئیس عمومی اداره ترانسپورت و ارتباطات در کابینه وزیران کشور ترکمنستان نشست برگزار شد.
در این نشست دو طرف در باره توسعه و گسترش روابط دوجانبه ترانسپورتی، همکاری در راستای بهبود ترانسپورت دو کشور، ایجاد سهولت در زمینه صدور ویزا به رانندگان وسایط ترانسپورتی افغانستان بحث صورت گرفت و تصامیم لازم اتخاذ گردید.
در ادامه این دیدارها، الحاج ملا حمیدالله آخندزاده با الهام محکموف، وزیر ترانسپورت اوزبیکستان و عصمت الله ایرگشوف، نماینده ویژه رئیس جمهور اوزبیکستان دیدار کرد.
در این دیدار که نمایندگان وزارت مالیه و اداره خط‌آهن نیز حضور داشتند، دو طرف درباره کاهش هزینه‌های وسایط باربری، ارایه خدمات ۲۴ ساعته در بندر حیرتان، تسهیل ویزا برای رانندگان افغان و اجرای پروژه‌های افغان ترانس بحث و تبادل نظر صورت گرفت و همچنان جهت رسیدگی به برخی مشکلات روی یک تیم فنی مشترک توافق شد.
در همین حال به ریاست الحاج ملا عبدالسلام حیدری، معین ترانسپورت جاده‌ای وزارت ترانسپورت و هوانوردی، با حضور نمایندگان شماری از وزارت‌های دیگر با نمایندگان ترانسپورت کشور ترکمنستان نیز نشست آنلاین برگزار شد.
در این نشست، در باره توسعه روابط ترانسپورتی میان دو کشور، افزایش فعالیت وسایط باربری و همچنان روی موضوعات راه لاجورد بحث و تبادل نظر صورت گرفت و تصامیم لازم اتخاذ شد.



# په تېرو درېو میاشتو کې څه کم اتیا ټرانسپورټي شرکتونه رامنځته شوي دي

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ټرانسپورټي خدمتونو تنظیم او عرضې ریاست له لورې د روان ۱۴۰۳ل کال په لومړیو درېو میاشتو کې ۷۷ ټرانسپورټي شرکتونه رامنځته شوي، چې په دې کې هغه پخواني فعال ټرانسپورټي شرکتونه هم شامل دي چې د وزارت د نوې کړنلارې سره یې ځانونه برابر کړي دي، ځینو ټرانسپورټي اتحادیو چې ټرانسپورټي شرکتونو ته یې ارتقا کړې ده او هغه ټرانسپورټي شرکتونه چې په لومړي ځل یې د فعالیت اجازه لیکونه ترلاسه کړي دي په یاده برخه کې شامل دي، د دې ترڅنګ ۹۰۷۵ موټر د برېښنایي کارتونو او کتابچو ترلاسه کولو پروسه کې ثبت شوي او همدارنګه په مخدره توکو د روږدو کسانو چې شمېر یې زرو ته رسېده، د درملنې څخه وروسته خپلو اړوند ولایتونو ته د ټرانسپورټي شرکتونو په همکارۍ وړته په وړیا توګه د لېږد زمینه برابره شوې او د دې تر څنګ په ولایتونو او سرحدي بندرونو کې د مسافرو او توکو برېښنایي سیستم فعال شوی دی. د دې تر څنګ د اړوندو ادارو سره په همغږۍ د ولایتونو تر منځ د باروړونکو موټرو د کرایو تثبیت او د باروړونکو او مسافروړونکو موټرو د کرایې مسوده ترتیب شوې ده.

# په درېو میاشتو کې څه کم ۲۵۰۰ کورنۍ خپلو سیمو ته په وړیا او خوندي ډول لېږدول شوې دي

د ۱۴۰۳ل کال په لومړیو درېو میاشتو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په مشرۍ، د ټرانسپورټ کمېټې لخوا له تورخم او سپین بولدک څخه (۲۴۹۵) کورنۍ چې د کسانو شمېر یې (۱۴۹۰۴) تنه کېږي، د افغانستان بېلابېلو ولایتونو ته په وړیا توګه لېږدول شوي دي. هېره دې نه وي چې د تېر یو کال په موده کې ۱۷ زره کورنۍ چې د کسانو شمېر یې تر سلو زرو زیات و، د هېواد بېلابېلو سیمو ته په وړیا او خوندي ډول ولېږدول شول، چې دا لړۍ لا هم روانه ده.



# پلانگذاری و تطبیق پروژه‌ها

وزارت ترانسپورت و هوانوردی جهت تطبیق پروژه‌های نیمه کاره سال ۱۴۰۲ و پروژه‌های جدید انکشافی سال ۱۴۰۳ پلان‌های عملیاتی کارا طرح و بودجه معین به آن مختص کرده است.
این وزارت که تاکنون توانسته در راستای اعمار، بازسازی و نوسازی بخش‌های ترانسپورت جاده‌ای و میادین هوایی در مرکز و ولایات نقش مؤثر داشته باشد، ده‌ها پروژه را پلانگذاری، طرح و تطبیق کرده است.
ریاست پلانگذاری و تطبیق پروژه‌ها این وزارت در زمینه طرح پروژه‌های انکشافی اسنادهای فنی (تهیه و ترتیب طرح، نقشه‌ها و برآورد) پروژه اعمار تعمیرات اداری ریاست‌ها / آمریت‌ها / مدیریت‌های عمومی تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایات، پروژه‌های ترمیماتی میادین هوایی و ترانسپورت جاده‌ای ولایات و پروژه‌های اعمار دیوار احاطوی را تکمیل کرده است.
همچنان این ریاست در بخش‌های تطبیق پروژه‌های مشارکتی سکتور ترانسپورتی گام‌های مؤثر و قابل توجه بر داشته است. وزارت ترانسپورت و هوانوردی که یکی از وزارت‌های خدماتی و عایداتی کشور به حساب می‌آید، با اعمار تعمیرات و دیگر زیربناها، خواهان آبادی و توسعه ترانسپورت جاده‌ای و هوایی و معیاری کردن آن به سطح منطقه و جهان است.

# د څه باندې ۵۰۰۰ موټرو تخنیکي چک ترسره شوی دی

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د تخنیکي خدمتونو او خوندیتوب ریاست لخوا د روان ۱۴۰۳ کال په دریو لومړنیو میاشتو کې د کابل په ترمینلونو او ټرانسپورټي هډو کې د مسافرو د خوندي لېږد او د موټرو معیاري کولو په موخه کابو ۵۰۳۸ موټر چک شوي، چې په دې کې څه کم ۳۰۰ موټر چې تخنیکي ستونزې یې درلودې، فعالیتونه ځنډول شوي دي.



# د ځان ارزښت مه کموئ!

یوه ورځ د اروا پوهنې استاد خپلو شاګردانو ته وینا کوله، هغه د وینا پر مهال له جیب څخه د سلو ډالرو نوی نوټ راوویست او ویې ویل:
څوک د سلو نوټ غواړي؟
په ټول تالار کې شور پورته شو، هر چا لاس پورته نیولی و:
زه، زه، زه زه . . . . . . .
استاد د ډالرو سلګون په خپل ورغوي کې برغو کړ، بیا یې ښه سره تاو راتاو کړ او وی ویل:
اوس یې څوک غواړئ؟!
د شاګردانو په شور کې هیڅ کمی رانغی.
استاد داځل سلګون پر ځمکه وغورځاوه، لهپاسه یې وربانديې پښه کېښوده، بیا یې شاګردانو ته وکتل :
اوس یې هم غواړئ؟
ټولو شاګردانو په یوه خوله په لوړ غږ وویل :
هو، هو، هوووووو...
استاد ټیټ شو، نوټ یې راواخیست، خاورې یې ترې پوف کړې او بیرته یې په خپل جیب کې کېښود، په موسکا یې شاګردانو ته وکتل:
سلګون هیچا ته هم نه ورکوم؛ بلکې تر دې سل ډالرو مې ډېر څه درته وښودل.
ګورئ! که ما له سلو ډالرو سره هر ډول چلند وکړ؛ خو ارزښت یې ورسره کم نه شو او نه د ستاسې په غوښتنه کې څه کمی راغی.
انسان هم په همدې ډول دی، کله کله دسختو حالاتو له کبله خپل توازن له لاسه ورکړي او پر ځمکه راپرېوزي، دی فکر کوي چې ګواکې زه نو اوس هیڅ ارزښت و قیمت نه لرم؛ خو داسې نه ده، په یاد ولرئ! که پر تاسې هر ډول حالات راشي، ستاسې په قدر او قیمت کې هیڅ ډول کمی نه راځي، ستا سې اصل قیمت همغه دی، کوم چې تاسې د خپل ځان لپاره ټاکلی دی.
پهخپله د خپل ځان ارزښت مه کموئ!

ژباړه



# موټر په پام چلوه!

د لویو لارو موټرچلوونکیه!

ته خبر یې له سپرلیو ډک موټر ته ورپورته کېدل او  بیا یې په بې پروایۍ سره څغلول څومره لوی مسئولیت لري؟ ستا په موټر کې په لسګونو کسان سفر کوي او هر کس په خپل سر کې د راتلونکي لپاره یوه رنګینه دنیاګۍ لري، خپلوان او کورنۍ لري، ته باید دې ټولو ته پام او احترام وکړې. کله چې دې په زړه کې د موټر چلولو هوس او هیله پیدا شوه، له دې وړاندې چې موټر ته پښه ورپورته کړې، لومړی له ځان سره فکر وکړه، چې ایا د دې وړتیا لرې، چې دومره لوی مسئولیت پر غاړه واخلې؟ د موټر له تخنیک سره بلد یې؟ ماغزه دې په مکمل ډول فعال دي؟ کومې نشې او حادثې خو به نه وي ځپلي؟ سترګې او غوږونه دې سم کار کوي؟ لاسونه، پښو او د  بدن نورو غړو ته دې وګوره، چې روغ او د موټر چلولو وړتیا لري او که نه؟ کله دې چې دا هر څه مکمل او جوړ وو، بیا په پوره مهارت د موټر چلول زده کړه، د موټر چلول داسې زده کړه، لکه پوهنتون چې وایې؛ لکه څنګه چې نیمه ډاکټر انسانان وژلی شي، که د یو چا موټرچلونه سمه نه وي زده، هغه هم د ډېریو انسانانو له ژوند سره لوبې کولی شي. کله چې دې د موټر چلولو زده کړه پای ته ورسېده، بیا د رسمي سند یا لایسنس په لټه کې شه په اصولي او قانوني ډول په خپل استعداد او وړتیا لایسنس واخله او له دې وروسته په بسم الله سره موټر ته پښه ورپورته کړه او له ځان سره فکر وکړه چې ما ته یو لوی مسئولیت راوسپارل شو او که چېرې ته خپله دنده په ښه شان سر ته ورسوې، ستا هره شېبه په عبادت کې حسابېږي، ځکه له تا سره ګڼ مسافرین له یوې سیمې بلې ته سفر کوي، ته باید د دې ټولو په خوندیتوب فکر وکړې، خدای مه کړه که چېرې دوی ته کومه پېښه کېږي او دا پېښه ستا له کبله وي، الله ج به یې درنه پوښتنه کوي او د دوی په مرګ ژوبله کې به ته حتماً ملامت او مجرم وبلل شې.

دا شېبه دې هر وخت سترګو ته ودروه! کله چې موټر روانوې، له روانېدو وړاندې یو ځل خپل ځان ته پام وکړه، چې خوب دې پوره او په ذهني ډول خو له کوم مشکل سره نه یې مخ، له دې وروسته خپل موټر وړاندې له دې چې د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د تخنیک چک کارکوونکي یې درته چک کړي، په سمه توګه وګوره، کله چې سل سلنه یې پر روغوالي ډاډه شوې. بیا (سُبْحانَ الَّذِی سَخَّرَ لَنا هذا وَما کنّا لَهُ مُقْرِنِینَ * وَ إِنّا إِلی رَبِّنا لَمُنْقَلِبُونَ) په لوړ اواز ووایه چې ټول مسافر یې واوري او له تاسره یې تکرار کړي.

بیا دې ملا وستونی یا کمربند وتړه!

ایا پوهېږې، چې د کمربند تړل څومره ګټه لري؟ دا کار د ټکر پر وخت ستا او ستا سره په خوا کې د سپرلیو مرګ ژوبله پنځوس سلنه راکموي.

ایا خبر یې چې په نړۍ کې هره ورځ څو کسان د ټرافیکي پېښو له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي؟

هره ورځ په منځني ډول تر درېنیم زره کسانو څخه زیات د ټرافیکي پېښو له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي او په سلګونو نور ټپیانېږي. دا شمېر د ناڅاپي مرګونو او معلولیتونو تر ټولو لوی لامل دی او د ملګرو ملتونو د احصایې له مخې د پنځلس کلنو او نهه ویشت کلنو تر منځ د مړینې لوی لامل ټرافیکي پېښې دي. دا چې په نړۍ کې د موټرو شمېر له ورځې نه بلې ته په ډېرېدو دی؛ نو ټرافیکي پېښې هم ورسره زیاتېږي او څېړنې ښیي چې د ټرافیکي پېښو تر ټولو لوی لامل  پخپله موټرچلوونکی دی.

ته نه وینې چې په لویو لارو کې کابو هره ورځ یوه نه یوه ټرافیکي پېښه رامنځته کېږي، زمونږ هېوادوال چې څو لسیزې وروسته د سولې له نعمته برخمن شوي دي، پکې خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي؟

نو د لویو لارو موټر چلوونکیه!

موټر په پام چلوه!

د موټر د چلولو پر مهال دې ټلیفون مه کاروه، له دې پرته چې د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت له لورې د جي پي ایس له خوا ستا سرعت کنټرول شي، پهخپله سرک او ټرافیکي نښو ته په لېدو دې سرعت کنټرول کړه. له موټر سره لوبې مه کوه، په پوره هوښیارۍ موټر چلوه او ځان په کابو کې ساته، ته د دې مسئولیت لرې، چې درسره سپرلۍ په خوندي ډول تر خپلو سیمو او کورنیو ورسوې.

موټر په پام چلوه!





# په اتریش کې اتلس‌کلنو ته ولې عامه ټرانسپورټ وړیا شو؟

د یورو نیوز راپور له مخې، د اتریش حکومت پرېکړه کړې ده چې ټولو اتلس‌کلنو ځوانانو ته د یو کال په مخه د عامه ټرانسپورټ وړیا ټکټ ورکوي. هر هغه کس چې عمر یې اتلس کلونو ته رسېدلی وي، د روان ۲۰۲۴ز کال د جولای میاشتې له لومړۍ نېټې څخه تر یو کاله پورې به د خپل هېواد په مترو بسونو او رېلګاډو کې وړیا تګ راتګ وکولی شي.

د اتریش د چاپیریال ساتنې وزیر (لیونور ګیوي سیلر) پر خپله ایکسپانه لیکلي، چې له دې څخه یې موخه عام وګړي د عامه ټرانسپورټ څخه ګټه اخیستلو ته هڅول دي؛ ځکه چې عامه ټرانسپورټ د شخصي موټرو پرتله لږ مضر ګازونه خپروي. ګومان کېږي چې هر کال به شاوخوا ۸۸زره ځوانان له دې وړیا امتیازه برخمن شي.



# حماد هوايي ډګر په نړۍ کې د لومړني غوره هوايي ډګر نوم خپل کړ

د سکای ټرکس (Skytrax) مؤسسه چې د هوايي ټرانسپورټ په برخه کې فعالیت کوي، د کلنۍ سروې په ترڅ کې چې د مسافرو رضایت او د (۵۷۰) هوايي ډګرونو څخه د مسافرینو تجربو پراساس له بېلابېلو هوايي ډګرونو څخه ترسره شوې ده، د قطر حماد نړیوال هوايي ډګر په ۲۰۲۴ز کال کې د نړۍ ترټولو غوره هوايي ډګر نوم خپل کړ.

دغه هوايي ډګر د منځني ختیځ ترټولو پاک هوايي ډګر او مسافرو ته د ډېرو اسانتیاوو برابروونکی هوايي ډګر بلل شوی دی او په دې برخه کې یې جایزه هم ترلاسه کړې ده.

حماد هوايي ډګر په ۲۰۲۲ کال کې د نړیوال جام کوربه و او اوس په کال کې د ۵۸ میلیونو مسافرو د لېږد ظرفیت لري. سینګاپور د چانګي هوايي ډګر، چې تر دې وړاندې په لومړۍ درجه کې و، دوهم غوره هوايي ډګر ته رالوېدلی دی



# د امارات هوايي شرکت ۵.۱ ميليارد ډالره ګټه کړې

د متحده عربي اماراتو هوايي شرکت د ۲۰۲۴ز کال د مۍ په ۱۴ نېټه اعلان وکړ، چې په تېر يو کال کې يې ۵ ميلیارده او ۱۰۰ ميليون ډالره عوايد ترلاسه کړي دي، چې دا د وړم کال په پرتله ۷۱ سلنه زياتوالی ښيي. دا پرلهپسې دويم کال دی چې د اماراتو هوايي شرکت د زيات عايد په برخه کې خپل لوړ ريکارډ ثبتوي. دغه هوايي شرکت له ۲۰۲۰ تر ۲۰۲۲ پورې، چې په نړۍ کې کرونا وبا خپره شوه، يو ميليارد او سل ميليون ډالره زيان کړی و؛ خو په تېرو دوو کلونو کې يې ټولټال ۸ ميليارد او سل ميليون ډالره ګټلي او هغه زيان يې پکې جبران کړی دی، چې د کرونا وبا له کبله وراوښتی و. د امارات هوايي شرکت د (۲۰۵) نورو الوتکو فرمايش ورکړی او ټاکل شوې ده د روان کال په موده کې به ۱۰ ايربس الوتکې وروسپارل شي. امارات هوايي شرکت د امريکا له امريکن اييرلاينز او دلټا هوايي شرکت وروسته د نړۍ دريم ستر هوايي شرکت ګڼل کېږي، چې د امريکن اييرلاينز په کال کې ۲۰۰ ميليونه مسافر، دلټا هوايي شرکت ۱۷۰ ميليون مسافر او امارات هوايي شرکت په کال کې ۵۰ ميليونه مسافر وړي او راوړي.



# په نړۍ کې د برېښنايي موټرو زياتوالی

د انرژۍ نړيواله اداره وايي چې په تېر ۲۰۲۳ز کال کې په نړۍ کې د برېښنايي موټرو پلور ۲۵ سلنه زيات شوی او اټکل کوي چې سږ کال به په هرو ۵ پلورل کېدونکو موټرو کې يو يې برېښنايي وي. د دې نړيوالې ادارې د هغه راپور پر اساس، چې د ۲۰۲۴ز کال د اپريل ۲۳ يې پر خپله ويبپاڼه خپور کړ، په ۲۰۲۳ م کال کې په نړۍ کې ۱۴ ميليونه برېښنايي موټرونه پلورل شوي او سږ کال به ټولټال ۱۷ ميليونه دا ډول موټرونه وپلورل شي. د روان ۲۰۲۴ په لومړيو دريو مياشتو کې هم نږدې ۳ ميليونه او ۴۰۰ زره برېښنايي موټرونه پلورل شوي، چې دا د تېر کال د ورته مودې پرتله ۲۵ سلنه زياتوالی ښيي. اوس مهال چين د برېښنايي موټرو تر ټولو ستر بازار دی. د نړۍ د ټولو برېښنايي موټرو په سلو کې ۶۰ يې يوازې په چين کې دي. په تېرو دوو کلونو کې د برېښنايي موټرو په صنعت کې ۵۰۰ ميليارد ډالره پانګونه شوې او تمه شته چې تر ۲۰۳۰ پورې په نړۍ کې د دې موټرو شمېر ۴۰ ميليونو ته ورسېږي. برېښنايي موټر چې پر چارچ چلېږي او د موټرو څښتنانو ته تر تېلو خورا ارزانه تمامېږي، مرسته وکړه چې تېر کال په نړۍ کې ۱۳۰ ميليون ټنه لږ ګلتوني ګازونه خپاره شي. سږ کال به دا ډول ګازونه ۱۸۰ ميليون ټنه کم وي او په ۲۰۳۰ز کال کې به د برېښنايي موټرو له برکته ۸۴۰ ميليون ټنه لږ ګلتوني ګازونه خپاره شي. سږ کال په لومړيو دريو مياشتو کې په چين کې يو ميليون او ۹۰۰ زره، په ټوله اروپا کې ۸۰۰ زره، د امريکا په متحدو اياالتونو کې ۴۰۰ زره او نوره نړۍ کې ۳۰۰ زره برېښنا يي موټرونه پلورل شوي دي، چې دا لړۍ ورځ تر بلې د پراخېدو په حال کې ده.




# فولکس واگن را چه کسی و با چه هدفی ساخت؟

حدود ۸۷ سال پیش، یک شرکت که در واقع وابسته به یک سازمان نازی (جبهه کارگر آلمان) بود، موتری کم‌هزینه به‌نام فولکس واگن که به معنی "موتر مردم" است، ساخت.
برای ساخت این موتر، جبهه کارگر آلمان در سال ۱۹۳٤م انجنیر اتریشی فردیناند پورشه را استخدام و در سال ۱۹۳۸م در ایالت کوزساکسونی کارخانه‌ای جدید تأسیس کرد. در سال ۱۹۳۹م، پیش از آغاز جنگ جهانی دوم، تولید انبوه فولکس واگن آغاز شد، این کارخانه که موتر فولکس واگن در آن تولید می‌شد، به هدف ساخت تسلیحات و وسایل نقلیه نظامی ساخته شده بود. این موتر که به هدف داشتن هزینه کم ساخته شده بود، اما اکنون به‌عنوان موتر کم‌هزینه جهان محسوب نمی‌شود.
در سال‌های ۲۰۱٦ و ۲۰۱۷م، فولکس واگن به عنوان یکی از بزرگترین شرکت‌های موترساز جهان شناخته شد که بزرگترین بازار این موتر در کشور چین است.
دفتر مرکزی فولکس واگن در ولفسبورگ آلمان قرار دارد. فولکس واگن اکنون در میان ده موتر پرفروش جهان، مقام سوم را دارد. بر اساس رده‌بندی اتوگاید (AutoGuide.com)، تویوتا به تعداد ۳۷,۵ میلیون، فورد ۳۵ میلیون، فولکس واگن گلف با ۲۷,۵ میلیون و مدل دیگر فولکس واگن، فولکس واگن بیتل به تعداد ۲۳,۵ میلیون به فروش می‌رسد.
بر اساس این رتبه‌بندی، مدل دیگر فولکس واگن، پاسات در جایگاه نهم قرار دارد و به ارزش ۱۵,۵ میلیون به فروش می‌رسد.



## هند لکه مرمۍ چټک رېلګاډي جوړوي

له چین او جاپان وروسته، اوس هند هم د چټکو رېلګاډو په جوړولو کې نوې پاڼه پرانستله. په دې وروستیو کې، د هند په کور دننه داسې رېلګاډي رامنځته کېږي چې ټول ماشینونه به یې د هندي کمپنیو لخوا تولیدېږي. دغه رېلګاډي به د مرمۍ په شان چټک وي او په یو ساعت کې به ۲۵۰ کیلو متره واټن وهي. د هند ریل اداري لهخوا دا ډیزاین شوي ټرینونه به په لومړي ځل د ممبۍ او احمد اباد تر منځ لارې باندې خپل سفر پیل کړي او مسافرو ته به د سفر چټک او خوندي لاره برابره کړي.




## تر غږ چټکه خصوصي الوتکه وازمویل شوه

د ۲۰۲۴ز کال د مارچ په ۲۱ نېټه تر غږ چټکه (XB-1) الوتکه چې بوم (Boom) کمپنۍ جوړه کړې ده، د امریکا کلیفورنیا په موجاوي ښار کې لومړنۍ ازمویښتي الوتنه وکړه. د دې الوتکې اوږدوالی ۱۹ متره او د وزرو اوږدوالی یې ٦ متره دی، چې په ساعت کې ۴۴۰ کیلو متره مزل کوي او ۲۱۷۰ متره لوړېدلای شي.



# لارۍ او ګړندي موټرونه

اويا، دوه اويا کاله پخوا[1] په افغانستان کې موټرونه ډېر لږ وو، دومره لږ چې له نن سره هيڅ د مقايسې نه وو. که ووايم چې اوس به زر چنده ډېر شوي وي بيا هم په خپله خبره کې شک رالوېږي، يعنې امکان لري چې تر دې به هم ډېر تفاوت موجود وي.

په قطغن او بدخشان کې چې يوې خوا ته يې هم سړک نه و وتلی، موټر به له کومه کېده؟

خلکو به ويل چې په لومړي ځل موټر له شبرخان بابا سره د مزار شريف په لورې خان اباد ته راغی، تر دوی پخوا نايب‌الحکومه‌ګان د آسونو په ذريعه راغلي او تللي وو.

زما چې يادېږي د شبرخان بابا د سورلۍ لومړی موټر تور بيوک و چې ګومان کوم د اعليحضرت امان‌الله خان له موټرو څخه به وو. بله يوه لارۍ وه چې باډي‌ګارډان به يې نايب‌الحکومه صاحب پسې رسول.

کله چې خان اباد د شيبر له لارې له کابل سره وصل شو، يوه نيمه لارۍ به کله کله خان اباد ته راورسېده، په هغو وختونو کې به لارۍ په مټ کې کله په يوه نيم او کله په دوه‌نيم شواروزه کې له خان اباده کابل ته ځان ورساوه، ځکه څه ژرنده پڅه وه، څه غنم لانده وو، يعنې څه سړکونه خام وو او څه د هغه وخت موټر د اوسنيو په اندازه تېز نه وو.

څرنګه چې دغه کتاب په ۱۳۸٦ل کال ليکل شوی دی؛ نو کله چې ليکوال اويا کاله پخوا يادوي، منظور يې د سږ (۱۴۰۳ل) کال په حساب (۸۷) کاله پخوا کېږي.
استاد محمد صديق پسرلی د مور له‌خوا د شبرخان لمسی کېده، نو د شبرخان سره تر ډېره يو ځای پاتې شوی دی او د ده هڅې او کندوز ته خدمتونه يې پر خپلو سترګو له نږدې لېدلي او کښلي دي.



شېرخان بابا به د لويې لارې ډرېوران ډېر نازول چې اوږدو سفرونو ته يې تشويق کړي. دې هڅونې د موټرو په زياتېدو اثر کاوه او د هر کال په تېرېدو سره د موټرو ډېرښت محسوسېده.
بسونه او ګړندي موټرونه ډېر کلونه وروسته رابښکاره شول، يو وړ وړې لارۍ به اکثره په غنمو، وريجو او نورو اجناسو پسې راتلې چې ډاج يې بللې.
بيا څو کاله وروسته تر هغو لږ څه غټې لارۍ پيدا شوې چې ډرېورانو به پنځجالۍ بللې. زه اوس هم چندانې د موټرو او د هغو د کمپنيو نومونه نه پېژنم. هاله خو لا کشر وم. دومره مې يادېږي چې د کندوز ښار او د پنبې شرکت د ابادولو کار شروع شو، ځينو ډرېورانو دې ته زړه ښه کړ، چې د کندوز او خان اباد لارې په مال او سورلۍ پسې د ورځې يو ځل يا دوه ځله ووهي راووهي. د قطغن اهميت ورځ په ورځ ډېرېده، تګ راتګ ورته ډېر شو، موټرونو ته بار او سورلي ډېر مونديدل.
په لومړيو کلونو کې موټرونه که لوی که واړه، اکثر يې امريکايي او انګليسي وو، چې داوودخان د خپلې صدراعظمۍ په دوران کې د تجارت مخ د روسانو په خوا واړاوه، د روسي موټرونو بهير را مات شو. له ګړنديو موټرونو والګا، ماسکوويچ، جيپ او لاريو ګاز، کاماز ... راوارد شول.
په وروسته لسيزه کې د جاپاني او جرمني موټرو رامخه شوه. د جاپان تيوتا او د جرمني بنز، اوپل، کاديت، فلوکس زيات شول. جرمني او جاپاني موټرونو ډېرې خوبۍ لرلې، هم ښکلي وو، هم ارام، هم يې د تېلو مصرف کم او هم يې د روسي موټرو برعکس پرزې او ماشين ژر ژر نه خرابېدل.

(د استاد محمد صديق پسرلي: «کندز په تېره پيړۍ کې» له کتاب څخه)



# د هوايي ټرانسپورټ اقتصادي ارزښت

هوايي ټرانسپورټ دهېواد د لرې پرتو سيمو او د نړۍ هېوادونو په نږدې کولو کې ارزښتناک رول لوبوي؛ خو د ځمکني ټرانسپورټ په پرتله د انرژيکي موادو د ډېر لګښت له کبله په لوړه بيه تمامېږي، مګر کولی شي، چې په ډېرې چټکۍ سره سياسي، سوداګريزې او نظامي اړيکې ټينګې کړي. له همدې امله هر هېواد د خپلو مالي او اقتصادي شرايطو له مخې د دې سکتور ودې ته ډېره پاملرنه کوي.
هوايي ټرانسپورټ زموږ د ګران هېواد د کمزوري اقتصاد په پرمختګ کې مهم رول لري او که په ښه ډول پراختيا ورکړل شي، کولای شي چې لرې پرتې سيمې له ښارونو سره ونښلوي او له دې لارې څخه د قومونو او قبايلو ټولنيزې، فرهنګي او اقتصادي اړيکې له ښارونو سره ټينګې او کولای شي يو جنګ ځپلی هېواد چې کلونه يې په جنګ کې تېرشوي دي، د نورې نړۍ له هېوادونو سره په اقتصادي، سوداګريزو او ټولنيزو اړيکو پر مزو وتړل شي. افغانستان اوس مهال په بېلابېلو ولايتونو کې ۲۷ هوايي ډګرونه لري، چې په دې کې پنځه يې نړيوال او نور يې محلي هوايي ډګرونه دي، له دې هوايي ډګرونو څخه هره ورځ په هېواد دننه او نړيوالې الوتنې کېږي، چې په دې سره زموږ سوداګري پرمختګ کوي، سوداګريز توکي په لږه موده کې په چټکه توګه د نړۍ مارکيټونو ته رسېږي، د لاسي توکو خرڅلاو ته زمينه برابرېږي، زموږ سيمه‌ييز پيداوار او لاسي توکي د نړۍ لويو مارکيټونو ته لېږدول کېږي او هېوادوال په ښه او هوسا ډول د حج فريضې اداکولو لپاره په لنډه موده کې رسېږي او همدارنګه د هوايي چلند له پراختيا سره د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د ګرځندويانو راتګ زياتېږي او زموږ د هېواد فرهنګ، تمدن، تاريخي اثار او هم طبيعي منظرې نړۍ ته ورپېژندل کېږي او د امارت خزانې ته ترې د پام وړ عوايد راځي. دا چې افغانستان يو غرنی هېواد دی او ډېر کله د موسمي بارانونو او واورو له کبله لويې لارې بندېږي او يا پکې ځمکنی ټرانسپورټ په ښه ډول نه ترسره کېږي، په داسې بيړنيو حالاتو کې له هوايي ټرانسپورټ څخه په ښه ډول ګټه اخېستل کېږي او د هېواد اقتصاد په پياوړتيا کې مهم رول لري.
پانګه اچوونکي بايد وهڅول شي، تر څو د هوايي چلند په برخه کې پانګه‌اچونه وکړي. دولت بايد د ګرځندويۍ د پراختيا لپاره د ګرځندويانو امنيت خوندي کولو ته پام وکړي او زمينه برابره کړي، چې د هېواد هرې برخې ته بې ويرې سفر وکړای شي. د هوايي چلند کارکوونکي بايد په مسلکي ډول وروزل شي او د دې تر څنګ بايد ټول هوايي ډګرونه په نړيوالو معيارونو سمبال او هر ډول الوتنو لپاره چمتو وي.

کرامت‌الله عابد

# دنیا مه بدلوه ځان بدل کړه

په پخوا زمانو کې یو پاچا و چې په یوه ودان هېواد یې پاچاهي کوله. پاچا یوه ورځ د یوه لرې ولایت په سفر روان شو، دی چې دربار ته راستون شو، د پښو د درد شکایت یې وکړ. دا اول ځل و چې په خپل عمر کې په دومره اوږد سفر تللی و، په لاره کې ډېرې تیږې وې او د پاچا پښې یې ټپاکې کړې وې. پاچا چې له درده په تکلیف و، امر یې وکړ چې دغه ټوله ورانه لار دې د غویو په پوستکو وپوښل شي، چې تګ ورباندې اسانه شي.درباریانو چې حساب وکړ ، ورمعلومه شوه چې که د هېواد د ټولو څارویو پوستکي هم په سړک اوار کړي، سړک ورسره پوره نه پوښل کېږي؛ خو پاچا دومره په قهر و چې چا سوڼ هم نهشو کولی. اخر یوه سپینږیري درباري جرئت وکړ، پاچا ته یې وویل: صاحب! د سړک د پوښولو پر ځای خپلې پښې په څرمن وپوښه او چرمي بوټونه جوړ کړه، له دې سره به نه یوازې په دې سړک بلکې په هر سړک بېغمه سفر کولی شې!

(د زرو هندارو کور)



خوست نړیوال هوایي ډګر

وزارت ترانسپورت و هوانوردی

ریاست اطلاعات عامه و نشرات

مجله

# ترانسپورت و هوانوردی

علمی ‹ معلوماتی ‹ فرهنگی

